# بازارونو ته د ښځینه سوداګرو د لاسرسي پر وړاندې پراته خنډونه

## د سولی او دیموکراسۍ لپاره د برابری موسسه



EPD | EQUALITY for Peace and Democracy

December 30, 2015

## لرلید

د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه افغانستان د یو سوله ییز، سوکاله او ولسواکه هیواد، چې په هغه کښې ټول افغانان د هر راز توپیر پرته مساوي حقونه ولري، لیدل غواړي.

## رسالت

د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسې رسالت دا دی چې میرمنې او ځوانان د ټولنې او پالیسۍ په کچه ځواکمن او د ایتلافونو او شبکو د جوړولو له لارې بشري حقونو، سولې او ښه حکومتوالی ته وده ور کړي.
د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه په لاندی دري ستراتیژیکو برخو باندی تمرکز کوي.

**سوله او امنیت:** د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه زیار باسی ترڅو د افغانستان خلک په ځانګړی توګه میرمنې او ځوانان وهڅوی او زړورتیا پکښې پیدا کړي ترڅو د سولی په رامنځته کولو، د شخړو د مخنیوي، د شخړو د حل او فصل، او په دواړو ملی او محلی سطحو د منځګړیتوب لپاره ګډون وکړي او په هغو کښې بوخت شي.

**ښه حکومتداري:** د ښه حکومتدارۍ په لاره کښې د ونډې ادا، کولو په موخه، د دولتی ادارو په منځ کښې د منابعو او پالیسیو له نظره روڼتیا او حساب ورکول زیاتوی. د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه د روزنی او د بودیجې د پلان جوړونې او تطبیق او عامه خدماتو د وړاندې کولو د څارنې او د انکشافي پروژو په تطبیق کښې، د هغوی د بوختیا له لارې ټولنې ځواکمنې کوي او غواړي چې حکومتي ادارې د خپلو خدماتو د کیفیت په اړه ځواب ویلو ته تیارې کړي.

**د بشر حقوق:** سوله او ښه حکومتوالی د بشر د حقونو د درناوی په اړه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره مهم کار دی. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه پر خپلو حقوقو ولاړو پروګرامونو د ایجاد او تطبیق یو طرحه باندې کار کوي چی د افغانستان ټول خلک پیاوړی کوی. او دهغوی پر بنسټ پروګرامونو ته د ودې او اجرا، په موخه لاره هواروي چی هغه د افغانستان ټولو خلکو ته دا ځواک ورکوي چې خپل حقوق وپیژني او د خپلو ټولو حقونو څخه د عمر، توکم، جنسیت او یا نورو عواملو د پام کښی نیولو څخه پرته برخمن شي. د سولی او دیموکراسی د برابرۍ موسسه په دی باور ده. چی د میرمنو حقوق د بشر حقوق دي او د افغان میرمنو ځواکمن کول د سولې او ډیموکراسی لپاره برابرۍ د موسسې د رسالت یو مهم عنصر دی.

## روش

د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه د سولې د رامنځته کولو، ښه حکومتدارۍ او بشري حقوقو د هڅو په برخه کښې د یوې هر اړخیزې طرحې څخه کاراخلي. د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه په محلی کچه ټولنې په حرکت راولي، د پلویانو د پیدا کولو لپاره فعالیت ترسره کوي. او داسی پلیټ فورمونه جوړوي چي هلته خلک را ټولیدای او د روڼتیا او حساب ورکولو او له دولت څخه د ښه خدماتو د وړاندي کولوغوښتنه کولای شي. د سولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه په دی ویاړي چې نوموړې موسسه نه یوازی دا چی پر میرمنو او ځوانانو تمرکز کوی بلکه هغه داسې یو موسسه ده چی د میرمنو او ځوانانو له خوا رهبری کیږي. او ټینګار کوي چې د هغې ۵۰ سلنه کارکونکې باید میرمنې او ۶۰ سلنه یې باید ځوانان وي. EPD همدارنګه د ټولو میرمنو د مشرتابه د یو جوړښت حمایت هم کوي. په هر حال، په بشپړه توګه د میرمنو پر موضوعاتو د تمرکز پر ځای، EPD به دې یادو شوو ساحو کښې کار کوي. لکه د بیلګې په توګه د سولې بهیر، ټاکنې، یا د فساد موضوعات، چی په هغو کښې د میرمنو او ځوانانو اړتیاو او نظریاتو ته باید ځانګړی پاملرنه شوې وي.

# لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ACCI | د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونه |
| ALCS | د افغانستان د ژوند د شرايطو سروې |
| AMA | د افغانستان د کوچنیو پورونو ټولنه |
| ANDS | د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي |
| AREDP | د افغانستان د کليوالي صنايعو د پراختيا پروګرام |
| ARTF | د افغانستان د بیارغوني وجهي صندوق |
| BSP | د سوداګرۍ د ملاتړ د خدماتو برابرونکي |
| CSO | د مرکزي احصائيې اداره |
| GDP | ناخالص کورني توليدات |
| H-AICFO | حرکت - د افغانستان د پانګې اچونې د آسانتياو برابرولو اداره |
| IRoA | د افغانستان اسلامي جمهوريت |
| MAIL | د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MFI | د کوچنيو پورونو اداره |
| MISFA | د افغانستان د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره |
| MoCI | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت |
| MoEC | د اقتصاد وزارت |
| MoF | د ماليې وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| MRRD | د کليو د بیارغونې او پراختيا وزارت |
| MSME | د کوچنۍ او منځنۍ کچې تصدۍ |
| NAPWA | په افغانستان کې د ښځو لپاره ملي کاري پلان |
| NRVA | د ملي خطر او زيان منني ارزونه |
| NSP | د ملي پيوستون پروګرام |
| OECD | د اقتصادی همکاريو او پراختيا سازمان |
| SME | د کوچني او منځني کچې تصدۍ |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام |
| UNFAO | د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنې اداره |
| USAID | د نړيوالې پراختيا لپاره د امريکا د متحده ايالاتو اداره |
| USD | امريکايي ډالر |
| WB | نړيوال بانک |
| WBC | د ښځو د سوداګرۍ شورا |

د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه



## ستاینه او کورودانی

د راپور لیکوال خپل ځان د ټولو هغو کسانو د ستاینې پوروړی بولي، چا چې د دې څیړنې ملاتړ کړی او کډون یې پکې کړی. ځکه چې د هغوی د ارزښتناکو نظریاتو او وړاندیزونو پرته، شایې دا څیړنه په سمه توګه نه وای تر سره شوی. د راپور لیکوال د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسې او په ځانګړې توګه د موریتس ریډ، عبدالحلیم اخکزي، او نوریه سلطاني څخه د هغوی د ملاتړ او مرستو له امله مننه کوی.

فهرست:


| | |
|---|---|
| عمومی لنډیز | I |
| مهمې موندنې | II |
| سپارښتنې | III |
| سریزه | ۱ |
| میتودولوژي | ۲ |
| د افغانستان اقتصادي بنه | ۳ |
| د ښځو حقوقي، ټولنیز او رسمي وضعیت | ٤ |
| ښځې په خصوصي سکتور کې | ٦ |
| لومړنۍ موندنې | ۹ |
| د درجو ورکولو جدول | ۱۵ |
| نتیجه | ۱٦ |
| د پالیسۍ سپارښتنې | ۱۸ |
| لومړۍ ضمیمه: جدولونه | ۱۹ |
| دوهم جدول: د افغانستان صادرات | ۱۹ |
| دریم جدول: د افغانستان واردات | ۲۰ |
| دوهمه ضمیمه: پوښتنلیک | ۲۱ |
| دریمه ضمیمه: د ښځینه سوداګرو دیاګرام | ۲۳ |
| کتاب ښود | ۲٤ |





# عمومي لنډيز

د ښځو اقتصادي وضعيت ښه والی د پرمختيايي لومړيتوبونو په سر کې ځای لري. په داسې حال کې چې د ښځو تر ملکيت لاندې سوداګرۍ باندې لږې څېړنې شوې دي، لکه د بيلګې په ډول د يوې چلونکې په توګه په سوداګرۍ کې د هغوی ونډه تر څو د اقتصادي ودې کچه لوړه کړي، عمومي انګيرنه دا ده چې ښځې په پرمختګ او اقتصادي وده کې محوري رول لوبوي. که چيرې د ښځو د اقتصادي ګډون په لار کې خنډونه له منځه يو وړل شي او يا کم شي، د کار توليد شايي په ځينو هيوادونو کې ۲۵ سلنه لوړ شي (د نړيوال بانک د جنډر اړوند د ۲۰۱۲ کال راپور). په ټوليزه توګه، په پوهنه، اقتصاد او سياسي ادارو کښې د ښځو حضور په نړۍ کې د په نښه شوو پاليسيو په پايله کې زيات شوی دی. د نړيوال بانک د جنډر د برابرۍ او پرمختيا د ۲۰۱۲ کال راپور په ګوته کوي چې «د ښځو حضور د نړۍ د کاري ځواک ۴۰ سلنه، د نړۍ د کرهنې کاري ځواک ۴۳ سلنه او له نيمايي څخه زيات د نړۍ د پوهنتون د زده کوونکو شمير تشکيلوي».

په ځانګړې توګه د ۲۰۰۰ کال په لومړيو کې د کم سواد کچه، د لوړو زده کړو ټيټه کچه او د بشري پانګې نشتون په پام کښې نيولو سره، نړيوالې ټولنې او افغان حکومت د ادارو او خصوصي سکتور په پراخه توګه د ظرفيت پر ودې تمرکز درلود. قانوني چوکاټ، د مالي سيستم رامنځته کول، د بنسټونو (زيربناء) او سيمه ايزې همکارۍ ته لاسرسي او هغو سرمشريزو غونډو چې سيمه ايزو او نړيوالو بازارونو ته يې د افغان (نارينه او ښځينه) سوداګريو د صادراتو او وارداتو د لاسرسي زمينه برابره کړې ده، د يادونې وړ دي. د خصوصي سکتور پرمختيايي ادارې چې د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ (۲۰۰۷/۲۰۰۸ – ۲۰۱۲/۲۰۱۳) په چوکاټ کښې کار کوي، د خصوصي سکتور لپاره يې د يو مناسب چاپيريال او ښه زمينې په برابرولو او هيواد ته د پانګې د راجلبولو په برخه کې هم مرسته کړې ده. دغه ستراتيژۍ د خصوصي سکتور په پراختيا کې د جنډر د جلاوالی په کار کې پاته راغلې ده. په دې ستراتيژۍ کښې يوازينۍ وسيله چې کليوالې بې وزلې ښځې يې د کار موخه ټاکلې وي، کوچنيو پورونو ته د ميرمنو د لاسرسي برابرول وو.[1] افغان حکومت په افغانستان کې په ټوليزه توګه د ښځو د ژوند د شرايطو د ښه والي لپاره، د نورو پاليسيو او قوانينو د تصويب تر څنګ، د افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان (۲۰۰۸ - ۲۰۱۸) د ښځو په اقتصادي پياوړتيا باندې تمرکز کوي، خپل ګامونه ګړندي کړي دي.

۱ د بشري پرمختيا راپور، د ملګرو ملتو پرمختيايي اداره، ۲۰۱۴، ۱۷۴مخ

# مهمې موندنې

د دې مطالعې موندنو يو شمير داسې موضوعات چې په اقتصاد کې د افغانستان د ښځو د بالقوه ګډون مخه نيسي په ډاګه کړې. د هغو ټولو له جملې څخه يو کار په ټول هيواد کې په مالي موضوعاتو کې د هغوی شاملول دي. د ټول نفوس يواځې ۹ سلنه په مالي موسساتو (بانکونو) کې حسابونه لري او ۳ سلنه په يوه رسمي اداره (بانک) کې د خونديتوب په موخه کې خپله شتمني ساتي.[۲] د نړيوال بانک د ۲۰۱۲ کال د مالي مشارکت د معلوماتو له مخې په رسمي مالي ادارو (بانکونو) کې ښځو يوازې ۲.۶۲ سلنه حسابونه درلودل چې دا اندازه د نارينه وو د حسابونو ۱۵.۴۲ سلنه اندازې سره په پرتله شوې ده. مالي مشارکت د بې وزلۍ د کمولو، اقتصادي ودې او د اقتصادي سوکالۍ څخه ملاتړ لپاره مهم دی. د بروکينګز د مالي معلومات او ډيجيټلي مالي مشارکت پروژې د ۲۰۱۵ کال د راپور له مخې رسمي ادارو ته د ښځو لاسرسی زيات شوی دی خو توپير يوازې ۴ سلنه دی چې ډير د انديښنې وړ وړ نه دی.[۳]

له بانکونو څخه د مالي پورونو د ضمانت ارزښت لا هم په سلو کښې ۱۰۲.۴ لوړ پاته دی او په افغانستان کې مالي سيستمونو ته لاسرسی د خلورم ستر خنډ په توګه په ګوته شوی دی چې له هغه وروسته په ترتيب سره بيا سياسي بې ثباتي، ځمکې ته لاسرسی او فساد نور ستر خنډونه ګڼل کيږي.[٤] رسمي اقتصاد ته د غيری رسمي سوداګريزو فعاليتونو را شاملول د مالي مشارکت لپاره ډير مهم دي. نقل شوي شواهد په غيررسمی اقتصاد کې په پراخه کچه د ښځو د سوداګريزو فعاليتونو ښکارندوی دي. دا کار د ښځو د ملکيت لاندې سوداګرۍ ته تاوان اړوي، ځکه چې دا سوداګرۍ به په ټيټه کچه دولتي پاليسيو کې را څرګنده شي. د دې خنډونو په لنډه توګه لاندې يادونه کيږي:

۱. کلتوری خنډ: په افغانستان کې عام خلک لږ تمايل لري چې ښځې د کور څخه بهر را و وځي.
۲. مالي خنډ: مالي امکاناتو (پيسو) ته د ښځو لاسرسی لا تر اوسه ډير محدود دی او د ښځو د نفوس يوازې ۴ سلنه رسمي ادارو (بانکونو) کې د حسابونو درلودلو ته لاسرسی لري.[٥]
۳. د بازار په اړه معلومات: په افغانستان کې ښځې د بازار په اړه معلوماتو ته محدود لاسرسی لري. د بازار په اړه معلوماتو ته لاسرسی ښايي يوازې د بيلا بيلو رسمي پروګرامونو له خوا په نښه شوو ډلو لپاره موجود وي.
٤. ټولنيز ګډون (مشارکت): په افغانستان کې ښځې لا تر اوسه د يوه ګوښه شوې ډلې په توګه پاته شوې دي او اړتيا لري چې بايد پياوړې شي تر څو هغوی په تصميم نيولو، بازار ته لاسرسي، خدمتونو او فرصتونو ته لاسرسی او سياسي او ټولنيزو اړخونو کې برخه واخلي.
٥. حکومتي پاليسۍ: حکومت اړتيا لري چې د جنسيت د برابرۍ پر بنسټ د سوداګرو ښځو لپاره مناسب سوداګرو چاپيريال برابر او په دې اړه خپلې پاليسۍ جلا کړي.
٦. د شتمنۍ درلودلو (ملکيت) حقوق: د افغانستان عرف او عنعنات لا هم په پراخه توګه د ښځو د مالکيت د حق مخالفت کوی.

---

۲ http://datatopics.worldbank.org/financialinclusion/country/afghanistan(۲۰۱۱)

۳ جان ډی. ويلاسنر، داريل ای. ويسټ، روبين جی. ليويس. د مالي لاسرسي او استفادې په برخه کښې د پرمختګ اندازه کول، د بروکنګز د مالي او ډيجيټلي شموليت د پروژې راپور، واشنګټن ډي سي، د آګشت ۲۶، ۲۰۱۵.

٤ سوداګريزه سروې: د ټول هيواد په کچه د افغانستان بنه ۲۰۱۴، نړيوال بانک، آی ايف سي ۴ مخ،

٥ دريم ياداښت ته رجوع وکړئ.

# سپارښتنې

دا څېرنه لاندېنۍ مهمې سپارښتنې کوي:

- د جندر (جنسیت) پر بنسټ د اقتصادي ودې د ستراتیژۍ جلا کول تر څو ډاډ تر لاسه شي چې سوداګرې ښځې له دې ستراتیژیو څخه بشپړه ګټه تر لاسه کړي.
- د ښځو د شبکو جوړښتونو ته باید وده ورکول شي تر څو پراخه کټګورۍ یو لړ ښځینه سوداګرۍ را ونغاړي او د ښځو سوداګریزه پوهه د هغو بیلا بیلو پروګرامونو او پروژو په اړه لوړه کړي چې د ښځو په سوداګریو باندې تمرکز لري.
- د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګریو ارقام راټول کړئ او په منظمه توګه په هیواد کې د ښځو لپاره د سوداګرۍ د زده کړې او د ښځینه سوداګرو اړتیاوو او پرتو خنډونو په اړه مطالعه وکړئ.
- د سواد او حرفوي زده کړو له لارې په بازار کې د ښځو د کار د ګډون زیاتوالی.
- د مدني ټولنو سره ګډې هلې ځلې کول تر څو په ټولنه کې د ښځو موقف ته نوې بڼه ورکړل شي او د هغوی د مدافعینو ملاتړ وکړئ چې عامو خلکو ته د ښځو د حق او په اقتصاد کې د ښځو سوداګریو د اغېزمنتیا په اړه روزنه ورکړي.
- پر ښځینه سوداګرو د ټولو کوچنیو او منځنیو تصدیو د پالیسیو د اغیزو ارزونه او د پالیسیو او پروګرامونو پړاو کې مونډنو ته ځای ورکول.

# ۱. سریزه

د نړیـوال بانـک د ۲۰۱۲ کال د نړیوالـې پراختیـا راپـور د جنـدر یـو شـانوالي او پرمختـګ پـه ګوتـه کـوي چـې د جنـدر برابـري کـولای شي د اقتصـادي تولیداتـو د ښـه والي او د ټولنـې عمومـي سـوکالۍ تـه وده ورکـړي. دغـه نـوی فکـر د جنـډر د برابـرۍ پـر بنسـټ د بـازار د اړتیـا سره سـم اقتصـاد مجسـم کـوي - چیـرې چـې ښـځې کـولای شي د کار د بـازار بشـپړې غوښـتنې سره مرسـته وکـړي. لـه اقتصـادي نظـره د کار پـه لیکـو کـې د ښـځو ګـډون تـه د کاري ځـواک د کمښـت د لیـرې کولـو د یـو فاکتـور پـه سترګه کتـل کیـږي چـې پـه ټولیـزه توګـه بـه پـه موجـوده بازارونـو کـې د تولیـد پـه زیاتولـو کـې مرسـته وکـړي. دا پـه ځانګـړې توګـه د زاړه اقتصـاد پـه صـورت کـې چیـرې چـې کاري ځـواک کمیـږي، صـدق کـوي.[۶] سره لـه دې چـې د اقتصـادي ودې پـه برخـه کښـې د ښـځو لپـاره د کارونـو رامنځتـه کولـو پـه مسـتقیمو اغیـزو بانـدې محـدوده مطالعـه تـر سره شـوې، مګـر د پرمختیایـي اقتصـادي معلوماتـو لـه مخـې دا ښـودل شـوې چـې پـه اقتصـادی فعالیتونـو کـې د ښـځو ګـډون د ناخالـص کـورني تولیـد د ودې سره مرسـته کـوي.[۷] پـه همـدې توګـه افغانسـتان کـې، د ښـځو د ځواکمنولـو پـه هڅـو کـې زیاتوالـی راغلـی چـې پـه پایلـه کښـې د هغـو ښـځو پـه شـمیر کښـې زیاتولـی راغلـی چـې د کورنـۍ سره مرسـته کـوي او پـه (۲۰۰۹) کال دا ونـډه (۱۳.۶) سـلنه وه خـو پـه (۲۰۱۵) کال کښـې دا ونـډه بیـا (۲۲.۶) سـلنې تـه لـوړه شـوې ده.[۸]

پـه افغانسـتان کـې د ښـځو ټولنیـز - اقتصـادي وضعیـت پـه تیـره لسـیزه کـې د پـام وړ بدلـون موندلـی دی. د ۲۰۰۲ کال څخـه مخکـې ښـځې ګوښـه پاتـه وې او لـه سیاسي، اقتصـادي او بـازار کـې د هـر ډول فعالیتونـو څخـه بـې برخـې وې. پـه افغانسـتان کـې پـه ۲۰۰۱ کال کښـې د نړیوالـې ټولنـې د مداخلـې وروسـته د ژونـد شرایـط، د زده کـړې کچـه، پـه سیاسـت کـې ګـډون او همدارنګـه پـه هېـواد کـې د ښـځو اقتصـادي حالـت ښـه شـوی دی، خـو لا هـم ډېـر کار بایـد تـر سره شي. پـه افغانسـتان کـې د ښـځو د زده کـړو، سیاسي او اقتصـادي پیاوړتیـا پـه برخـه کـې لـه یـو څـه لاسـته راوړنـو سره سره ښـځې محرومـه ډلـه ګڼـل کیـږي. ښـځې لا اوس هـم د هیـواد پـه اقتصـاد کـې لـړ اسـتازیتوب لـري او تـر ډېـره بریـده پـه اقتصـاد کـې پـه غیـر رسـمي بڼـه پـه سـوداګرۍ او د اعاشـې د برابرولـو پـه کار بوختـې دي. کرهنـه هغـه یوازنـی سـکتور دی چـې زیاتـره ښـځې پکښـې پـه کار بوختـې دي چـې لـه هغـوی څخـه څـه نـا څـه تـر لاسـه کـوي تـر څـو د کرهنیـزو محصولاتـو لـه لارې د خپلـې کورنـۍ د غـړو ملاتـړ و کـړي.[۹]

پـه هیـواد کـې د نـا امنـۍ او د یـوې غښـتلې معلوماتـي سروې نـه شـتون لـه املـه، لـږ معلومـات وجـود لـري چـې دا معلومـه کـړي چـې څومـره ښـځې پـه کار بوختـې دي، د هغـوی د مهارتونـو حالـت څنګـه دی، هغـه خنډونـه چـې د ادارو لـه خـوا دوی ور سره مـخ دي او کومـو پالیسـیو کـې بایـد اصلاحـات رامنځتـه شي چـې د ښـځو لاسرسـی تـه لاره هـواره کـړي او همدارنګـه پـه اقتصـاد کـې د هغـوی اغیزمنتـوب ښـه کـړي. پـه اقتصـاد کـې د ښـځو ګـډون نـه یـوازې ‹د بـازار د اړتیـا سره سـم اقتصـاد› دی، بلکـه د هغـوی د ګـډون او پایښـت لرونکـې ودې لپـاره یـو مهـم عنـصر دی. د دې لپـاره چـې د هغـو بیړنیـو موضوعاتـو پـه اړه چـې ښـځې پـه کابـل کـې ور سره مخامـخ دي، د سـولې او ډیموکراسـۍ د برابـرۍ موسسـې(EPD) پتیلـې ده چـې د بـازار یـوه ځغلنـده ارزونـه(RMA) ترسره کـړي. پـه ځانګـړې توګـه، د بـازار د یـوې ځغلنـده ارزونـې موخـه الـف) د هغـو خنډونـو ارزول چـې د سـوداګرو ښـځو لاسرسـی بـازار تـه محـدودوي (لکـه د سـوداګرۍ معلوماتـو تـه د لاسرسي نـه شـتون، او د انسـاني کاري ځـواک کموالـی) او ب) پـه محـلي او سیمه بازارونـو کښـې د ځانګـړو تجارتونـو د اندازې او ودې د امکاناتـو پـه اړه معلومـات برابـرول. دغـه څېړنـه دا هڅـه هـم کـوي چـې هغـه بازارونـه پـه ګوتـه کـړي چـې کـولای شـي د شـاخص لرونکـي نظریـي د

۶ د پیسو نړیوال صندوق د کارکونکو د بحث یاداښت، ښځې، کار او اقتصاد: د جنډر د برابرۍ له نظره د کوچنیو اقتصادونو لاسته راوړنې، اویتیک،نیویک، کوچهار،فابریزیو، کوپدار، ویګجندر، کلیمنت او سچیواردز

۷ د اقتصادي همکاریو پرمختیایي سازمان، په نړیوال اقتصاد کې د سوداګرۍ د ودې او کوچنیو او منځنیو سوداګریو نوښت

۸ «افغانستان په ۲۰۱۵ کال کې، د افغانستان د خلکو سروې». کیت شاوی. د اسیا فونډیشن. ۲۰۱۵. ۱۴۲ مخ.

۹ «د افغانستان په راتلونکې کې د ښځو نقش – لاسته راوړنو او دوامداره ننګونو ته پاملرنه». د نړیوال بانک ډله. ۲۰۱۳-لومړی فصل، ۹۳ مخ.

طرحې پر بنسټ بازار ته د ښځینه سوداګرو د جذب د وړتیا لاري ولټوي.

د دندې ماهیت ته په پام او د وخت محدودیت په نظر کې نیولو سره، د هغه چا چې مرکې ور سره کېږي د هغوي د نمونې اندازه، چې سوداګرې ښځې، نړیوال سازمانونه پکې شامل دي، کوچنۍ ساتل شوی دي. په هرصورت، د مطالعې میتودولوژي داسې طرح شوې وه چې د نمونې اندازې د کمښت د مخنیوي لپاره کار ور کړي. د درجه بندۍ یو بشپړ جدول، د مرکو او اسنادو بیا کتنې د دې څېړنې تر سره کېدل ممکن او د هغې د موندنو د ځواکمنتیا سره یې مرسته کړې ده. راپور په لاندې ډول جوړ شوی: دوهمه برخه د معلوماتو د راټولولو لپاره په هغې میتودولوژي خبرې کوي چې د دې مطالعې د طرحې په اړه معلومات ورکوي. دریمه برخه د افغانستان د اقتصاد یوه بنه څرګندوي. څلورمه برخه په هېواد کې په تولیز ډول د ښځو پر وضعیت بحث کوي. پنځمه برخه خصوصي سکتور او ښځو ته پام را اړوي. شپږمه برخه د بازار ځغلنده ارزونه او موندنې وړاندې کوي. اومه برخه د درجه بندۍ جدول وړاندې کوي. اتمه برخه د بازار په یوه ځغلنده ارزونه او موندنو پای ته رسیږي. نهمه برخه د پالیسۍ په اړه لنډې سپارښتنې کوي. په ضمیمو کې، لمړۍ ضمیمه سوداګرۍ تولیدات را نغاړي. دوهمه ضمیمه پوښتنلیک لري. په دریمه ضمیمه کې د سوداګرو ښځو دیاګرام شامل دی.

# ۲. میتودولوژي

دا څېړنه د لنډو او غوره شوو اسنادو د مطالعې له لارې تر سره شوې ده تر څو د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګریو چې د وړو کوچنیو او متوسطو تصدیو د تعریف له مخې د سواګرۍ او صنایعو د وزارت په چوکات کښې کار کوي، معلومات راټول کړي. سره له دې چې راټول شوي معلومات او د معلوماتو د راټولولو میتودونو د ښځو یو شمیر سوداګرۍ په ګوته کړي دي او د اغیزمنو شوو ښځو فهرست د حکومتی، غیرحکومتي او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسې د نوملړ څخه غوره شوی وه تر څو د دې څیړنې لپاره سروې ور سره تر سره شي.

د وخت د محدودیت له امله د ډیر شمیر نمونو پراخه مطالعه ممکنه نه وه او د مناسبو نمونو غوره کولو د ستراتیژیو څخه کار واخستل شو. د نمونې اندازه د نوملړ څخه غیر تصادفي او نښه کړای شوې وه. دې څېړنې ۳۰ ښځینه سوداګرې چې د کابل په ښار کې په خیاطۍ، لاسي صنایعو او نورو کارونو بوختې وې، تر پوښښ لاندې نیولې دي. یوازې هغه سوداګرو سره مرکې تر سره شوې چې لاسرسی ور ته اسان او فرعي سکتور کښې په سوداګرۍ بوختې وې او په عمده توګه یې ښځې پر دندو ګمارلې دي. دغه څېړنه په ۶ اوونیو کې بشپړه شوې ده. د درې ډوله ارقامو د لاسته راوړلو په مقصد، دې مطالعې د سوداګرو ښځو، مالي ادارو، دولتي ادارو، چې د کوچنیو او متوسطو سوداګریو ملاتړ کوي، سروې شوې ده.

لومړني معلومات د یوه تفصیلي پوښتنلیک له لارې راټول شوي دي تر څو د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګریو یو انځور وړاندې کړي. برسېره پر دې، د درجې ورکولو یو کارت څخه کار واخستل شو تر څو د سوداګرو ښځو د کار په لار کښې پراته خنډونو د اسنادو د مطالعې او درجې ورکولو د جدول له مخې معلوم کړي چې دا وکتل شي چې سوداګرې ښځې د هغو خنډونو د اهمیت په اړ چې د اسنادو د مطالعې او د درجو ورکولو د جدول چې کارپوهانو له خوا د پایښت لرونکي فرعي سکتور په ګوته کولو په برخه کې ورکول شوي دي څومره پوهه لري. د کوچنیو او متوسطو سوداګریو جدول د پرمختیایي کارپوهانو لپاره تیار شو تر څو هغوی د خپلې پوهې په رڼا کې هغه فرعي سکتورونو ته درجې ورکړي چې هغه د ښځینه سوداګرو لپاره په اوسني بازار کې یوه پایښت لرونکې سوداګري وي. هغه وسیلې چې د معلوماتو د راټولولو او د کوچنیو او منځنیو سوداګریو د محرکینو د پیژندلو لپاره ترې کار اخیستل شوی دی په هغه کې

د درجو جدول، مهمې معلوماتي مرکې، پوښتنليک او يو کارت شامل دي.

د درجو د جدول وسيله (اوومه برخه وګورئ) د بازار د څغلنده ارزونې لپاره د قيرغزستان تجربه په کار وړل شوې تر څو د اقتصاد هغه فرعي سکتور په ګوته کړي چې د ښځو لپاره د فرصتونو د لاسرسي کار ترې واخستل شي.[10] په دې مطالعه کې فرعي سکتور د دوه سرچينو د په کار وړلو له لارې، الف) د جنډر د استخدام له نظره د بيل شوي فرعي سکتور او ب) د کارپوهانو نظر و پيژندل شو: د درجو ورکولو يو جدول جوړ او د په ګوته شوو فرعي سکتورونو يعنې د جامو جوړولو صنعت، مالداری، د لبنياتو، د بنيونو روزل او پرچون پلورل چيرې چې د ښځو استازيتوب د يو مامور او يا د يو کار ور کونکي په توګه ډير لوړ دی. که څه هم د پرچون پلورلو په برخه کې د ښځو ونډه ډيره لږه ده، خو د مطالعې موخه د ښځينه سوداګرو لپاره د پرچون پلورلو د فرصتونو لټول دي. د درجو ورکولو جدول ۷ کارپوهانو ته وړاندې شو تر څو د ۱ څخه تر ۴ پورې درجې ورکړي. د هيلې سره سم بايد لاسته راغلي معلومات لږ تر لږه ۲۰-۳۰ کارپوهانو ته د درجو ورکولو لپاره ورکول شوی وای. د دې خنډونو په نظر کې نيولو سره د دې درجو ورکولو جدول د ارزونې تمرين د اړين پيوند د لرونکي په توګه نه بلکه د يوې وسيلې په توګه مطرح دی. د موندونو له مخې د ۱ درجه د ميرمنو لپاره د پايښت نه لرونکي فرعي سکتور په معنا او ۴ د مناسب او غوره فرعي سکتور په معنا دی چې ښځې بايد پکې پانګونه وکړي. د درجو د جمع کولو پايله د فرعي سکتور پايښت په ګوته کوي.

# ۳. د افغانستان اقتصادي بڼه

په تيره لسيزه کې د افغانستان اقتصادي وده د پام وړ وه. په افغانستان کې د کورني ناخالص توليد وده په اوسط توګه د ۲۰۰۳ کال څخه د ۲۰۱۲ کالو پورې په سلو کې ۹ وه. په ور ته ډول، د سړي سر ناخالص عايد اندازه د دوه برابرو څخه زياته يعنې د ۲۰۰۶ کال له ۳۰۰ امريکايي ډالرو څخه په ۲۰۱۲ کال کې ۶۹۰ ډالرو ته لوړه شوې ده. په داسې حال کې چې د ودې د لاسته راوړنې د پام وړ وې، افغانستان لا نور هم ډير نور کار ته اړتيا لري. د سړي سر دا دوه برابره ناخالصه وده افغانستان ته د ۲۱۳ هيوادونو څخه په ۱۹۸ مه درجه کې ځای ورکړی دی، تر ټولو ټيټ د مرکزي افريقا جمهوريت ؤ چې وده يې ۶۰۰ ډالره وه.[11] د افغانستان د سړي سرعايد اندازه هم په جنوبي اسيا کې ټيټه ده. سربيره پر دې، اقتصادي وده او باور د لېږد د کلونو څخه چې د ۲۰۱۳ څخه پيل کيږي پر ځای ولاړ دی. په ۲۰۱۴ کال کې د سړي سر عايد ۶۳۳.۸ ښودل شوی دی چې دا اندازه په ۲۰۱۲ کال کې يوه څه لوړه يعنې ۶۹۰.۸ وه. په ۲۰۱۵ کال کې تمه کيدله چې د ودې اندازه به ۱.۹ وي.[12] دا حالت دا په ګوته کوي چې لومړی) د ودې کچه به ټيټه پاته شي او دوهم) سړي سر عايد پر ځای دريدلې او په نږدې موده کې به همدومره پاتې شي.

د افغانستان مالی حالت همدارنګه محدود پاته دی. افغانستان په پراخه کچه د خپلې ملي بودجې د تمويل لپاره په بهرنيو مرستو تکيه کړې ده. په ۲۰۱۴ کال کې د سياسي او امنيتي ابهام له امله د مرستو کمښت او د اقتصادي ودې ورو کيدل چې کورنيو ناخالصو توليداتو کې ۱۷.۵ سلنه مالي کسر رامنځته کړ، په کومو کې د مرسته کونکو ادارو مرسته شامله نه ده.[13] که څه هم د نوي ملي يووالي حکومت ډاډ ور کوي چې په ۲۰۱۵ کال کې به دا کسر شتون و نه لري،

۱۰ "د کوچنيو او منځنيو سوداګريو د بازار چټکه ارزونه لکه جامې، ګرځندوی، ميوه او سابه، او لبنيات: د سکن کولو صنعت، په قرغيزستان کې د ښځو تر ملکيت لاندې د کوچنيو او منځنيو سوداګريو سيالي او فرصتونه (USIAD. ACDI/VOCA) فبروری ۲۰۱۳. ۵ او ۶ مخ.

۱۱ د نړۍ د پرمختيايي شاخصونو ارقام، نړيوال بانک، د سپتمبر د ۱۸، ۲۰۱۵ کال ارزونه.
http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.PCAP.CD/countries

۱۲ "نوي پرمختيايي معلومات." د نړيول بانک ډله، اکتوبر ۲۰۱۵. لومړی مخ.

۱۳ "د افغانستان پرمختيايي نوي معلومات". نړيوال بانک. اکتوبر، ۲۰۱۵.

کـه څـه هـم، چـې امنیتـي لګښـتونه پـه زیاتیـدو دي د ملکـي وګـړو لپـاره د خدماتـو وړانـدې کـول لـه پامـه غورځـول کیـږي. سربیـره پـر دې، داسـې سـخت مـالي وضعیـت د دنـدو پـه زیاتولـو او د پرتـو سـتونزو د حـل کولـو او د افغانسـتان د اقتصـاد د بیـا را ژونـدی کولـو پـه برخـه کـې د حکومـت وړتیـا محـدودوي. دا پـه دې معنـا ده چـې ډېـرې لـږې نـوې مرسـتې شـته د ملـي بودجـې سره ور زیاتـې شي چـې د جنسـیت د برابـرۍ د پایلـو ملاتـړ وکـړي.

د نړیـوال بانـک پـروژو پـه ۲۰۱۶ کال کـې پـه حقیقـي توګـه ۳.۱ ناخالصـه وده درلـوده او تمـه کیـږي چـې پـه راتلونکـو څـو کلونـو کـې بـه نومـوړې وده لـه ۳-۵ سـلنې پـورې پاتـه شي.[14] دوی همدارنګـه پـه تیـرو څـو کلونـو کښـې د تقریبـي شـاخصونو لـه مخـې د عمومـي اقتصـادي فعالیتونـو کموالـی هـم ښـیي او د نـوو شرکتونـو ثبتولـو کموالـی د بیلګـې پـه توګـه وړانـدې کـوي، کـوم چـې د ۲۰۱۳ لـه ۳۶ سـلنې څخـه پـه ۲۰۱۴ کال کـې ۲۶ سـلنې تـه را ټیـټ شـوی دی.[15] ټـول اقتصـادي شـاخصونه یعنـې د ودې را ټیټیـدل، او پـه اقتصـاد د ولـس د بـاور کمیـدل، د تیـرو کلونـو پـه پرتلـه د خصوصـی سـکتور د فعالیتونـو د کچـې ټیټیـدل او همدارنګـه د مرسـتو د کچـې کمښـت، کـوم چـې د ډېـرو اصلاحاتـو تـر شـا یـو محـرک وه، چـې پـه هغـو کـې د ښـځو لپـاره مرسـتې هـم شـاملې وې، دا پـه ګوتـه کـوي چـې پـه ټولیـزه توګـه بـه اقتصـادي بنـه ضعیفـه شي. د ښـځو لپـاره اقتصـادي موضوعـات چـې لـه پخـوا څخـه د بـازار یـوه برخـه وه او همدارنګـه هغـه کسـان چـې غـواړي محـلي بازارونـو تـه داخـل شي ښـایي غښـتلي شي. د دې لپـاره چـې د دغـو سـوداګریو ملاتـړ وشي، د سـیمه ییـز بـازار پـه تحرکاتـو پوهیـدل او دا چـې څنګـه پـه هغـوی کـې بریالیتـوب تـر لاسـه کـړي یـوه اسـاسي خـبره ده. دا لاندینـۍ څـو برخـې بـه هڅـه وکـړي چـې موضوعـات را وسـپړي او همدارنګـه هغـوی تـه د حـل لاره او سپارښـتنې وړانـدې کـړي.

## ٤. د ښځو حقوقي، ټولنیز او رسمي وضعیت

د افغانسـتان د ۲۰۰۴ کال اسـاسي قانـون، نارینـه او ښـځو دواړو لپـاره مسـاوي حقـوق ورکـړي دي او د ښـځو پـر وړانـدې هـر ډول تـاو تریخوالـی منـع کـوي.[16] د افغانسـتان اسـاسي قانـون د جنسـیت د برابـرۍ پـه اړه روښـانه دریـځ لـري او د تېـرو لسـو کلونـو پـه تـرڅ کـې داسـې قوانیـن جـوړ شـوي چـې د جنـډر مسـاوات تـه وده ورکـوي او د ښـځو پـر وړانـدی د تاوتریخـوالي د مخنیـوي" قانـون * جـوړ شـوی دی. د هېـواد د کار پـه نافـذه قانـون کـی[17] د ښـځو لپـاره موضوعـات شـامل شـوي دي او مختلفـو وزارتونـو د جنـدر پالیسـۍ او سـتراتیژۍ تیـار کـړې تـر څـو پـه هېـواد کـې د ښـځو لپـاره د کار خونـدي او مناسـب چاپېریـال رامنځتـه کـړي. پـه هـر حـال، د ښـځو د ځواکمنولـو لپـاره د حکومـت پرلـه پسـې ملاتـړ او پـه هېـواد کـې د قانـون د حاکمیـت د پیاوړتیـا اړتیـا ده تـر څـو دا ډاډ تـر لاسـه شي چـې ښـځو تـه لکـه څنګـه چـې د افغانسـتان د اسـاسي قانـون پـه چوکاټ کـې برابـر حقـوق منـل شـوي دي پـه هماغـه اندازه حـق ورکـول شي. پـه افغانسـتان کـې یـو لـه هغـو ډېـرو لـږو سـتراتیژیو څخـه د ښـځو لپـاره (۲۰۰۷ -۲۰۱۷ پـورې) د ملـي عمـل پـلان دی(NAPWA) ، چـې پـه دریـو سـتنو یعنـې ۱) امنیـت، ۲) ښـه حکومتـداري، د قانـون واکمنـي او بـشري حقونـه او ۳) اقتصـاد، کار او بـې وزلـۍ ولاړ دی، متمرکـز پروګرامونـه عمـلي شـوي دي او / یـا د لاس لانـدې دي تـر څـو د ښـځو پـه ژونـد کـې لکـه د روغتیـا او د ښـځو د زده کـړو پـه برخـه کـې د پـام وړ لاسـته راوړنـې لـري، خـو د مـالي نظـره ښـځې اوس هـم زیـان منونکـي دي. د خلکـو د مـالي وضعیـت ښـه والي لپـاره، پـه دې وروسـتیو کلونـو کـې د مـالي ادارو پـه تاسیسـولو کـې زیاتوالـی راغلـی او ځینـې یـې د سـوداګرو ښـځو لپـاره ځانګـړي پروګرامونـه لـري. خـو مالیـي سرچینـو تـه لاسرسي د سـوداګرو ښـځو ټولنیـزو او فرهنګـي منښـت تـه اړتیـا لـري. د نـورو برخـو تـر څنګـه ښـځې د سـواد زده کـړې، لـوړو

١٤ (شپږم یاداښت).

١٥ "اقتصادي نوي معلومات." نړیوال بانک. اپریل ۲۰۱۵. ۷ مخ.

١٦ "۲۲ ماده: د افغانستان د اوسیدنکو تر منځ هر راز تبعیض او توپیر منع دی. د افغانستان اوسیدنکي، نر او ښځې، د قانون پر وړاندې برابر حقوق او دندې لري."

* د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د دولت له خوا صادر شو خو د ملي شورا له لورې رد شو

١٧ افغانستان د کار د قانون ۹، ۲۹، ۳۱، ۳۸ او ۴۸ ماده

زده کړو، روغتیا، چې د ښځو د پیاوړتیا سره چې د سوداګرو ښځو حقونه خوندي کوي، اړتیا لري.

د افغانستان مدني قانون په ۱۹۷۷ کال تصویب شوی دی،[۱۸] چې په هغه کې په ټولنیزو حقونو او جندر پر موضوعاتو تفصیل ورکړل شوی دی. د نورو حقونو تر څنګ، په مدني قانون کې ښځې حق لري چې یا د میراث او یا انتقال او یا هم د رانیولو له لارې د ملکیت درلودلو حق لري.[۱۹] مدني قانون د ښځو هغه ملکیت چې ښځې یې لري د هغوی د ټولو حقوقو ضمانت کوي او د هغو خاوند، پلار، ورور او نور نارینه او ښځینه خپلوان د هغوی د ملکیت په مدیریت کښې د لاس وهلو څخه منع کوي. سربیره پر دې، مذهب هم ښځو ته حق ورکوي چې ملکیت و لري او سوداګري وکړي.[۲۰] که څه هم په عمل کې په افغانستان کې د ښځو د ملکیت په برخه کې دواړه، هم شرعي او هم دولتي قوانین پلي شوي نه دي. که څه هم، په هېواد کې د جنډر په اړه پوهه او د جنسیت د حقوقو درناوی د نورو حقونو ترڅنګ عملا محدود پاته دی چې په پایله کې د حقونو څخه د ناوړه ګټې اخستنې سبب شوی دی. "له حقوقي پوهاوي او د قانوني جوړښت سره له آشنایي پرته، ښځې زړه نا زړه دي چې د ملکیت د حقوقو ادعا او دغو حقونو څخه سرغړونو ته پاملرنه وکړي."[۲۱] هغه مطالعات چې په هېواد کې ترسره شوي دا په ګوته کوي چې په هیواد کې رواجونه د دولتي قوانینو سره څنګ پر څنګ چې پر اسلامي ارزښتونو ولاړ دي د میرمنو ټولنیز ګډون له ګواښ سره مخ کړی دی او "نا امنۍ، بې سوادۍ، په کارونو کې د ښځو لږه ګمارنه او د یو کمزوری او ناا‌غیزمن قضایي سیستم جوړښت موضوعاتو د ملکیت حق ته د ښځو لاسرسی لا نور هم محدودیتونو سره مخ کړی دی".[۲۲]

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په هیوادونو کې د جنسیت د نابرابرۍ ارزونه، د ولادت (زیږون) روغتیایي آسانتیاوی، څواکمنتیا او اقتصادي وضعیت د شاخصونو په توګه کاروي چیرې چې افغانستان د ۱۵۱ هیوادونو په منځ کښې ۱۵۰ ځای خپل کړی دی.[۲۳] په داسې حال کې چې د ښځو د پیاوړتیا لپاره یو قانوني چوکاټ موجود دی، دا پایله په ځانګړې توګه د اندېښنې وړ ده. پداسې حال کې چې په ښارونو لکه کابل، هرات، ننګرهار او بلخ ولایتونو کې د حکومتي ادارو ځواک قوي دی خو په عمومي توګه په افغانستان کې د ښځو وضعیت ډاروونکی دی.

کلتوری او ټولنیز نورمونه په پراخه کچه د منلو وړ او عملي کیږي او د خپلو حقوقو کارولو په برخه کې یې اړوندو ادارو ته د ښځینه سوداګرو لاسرسی محدود کړی دی. د افغانستان د خلکو په اړه د آسیا فونډېشن سروې، د کور څخه بهر د ښځو د کار کولو په اړه د خلکو د پوهې د لړوالي تمایل په ګوته کوي. د نارینه ځواب ورکوونکو ۶۴ سلنه هم نظره دي چې ښځې کولای شي د کور څخه بهر کار وکړي پر خپل ځای یو خوشبینانه انځور ځرګندوي خو دا مطالعه راپور ورکوي چې "د هغه ځواب ورکوونکو (۶۱.۲ سلنه) چې هیڅکله ښوونځي ته ندی تللي ډیر لږ احتمال شته چې د کوره بهر د ښځو د کار د مفکورې سره موافق و اوسي".[۲۴] 'د آسیا فونډېشن ( "د افغانستان د خلکو د ۲۰۱۵ کال سروې") په همدې سروې کې د ښځو ځواب ورکونکو د شمیر تقریبا ۷۳ سلنه د کور څخه بهر د ښځو کار کولو سره موافقه ښودلې ده.

د پوهنې او عامه پوهاوي کچه د خلکو د پوهې په بدلون کې اساسي رول لري تر څو دا ډول ټولنیز او کلتوري بدلون و

۱۸ کعبه راستین تهراني، نجمه یاسری. "په افغانستان کې د کورنۍ د قانوني لارښود." د ماکس پلاننګ پوهنتون د مدني قانون او نړیوال قانون مقایسه. دوهمه خپرونه، جولای ۲۰۱۲.

۱۹ د افغانستان مدني قانون ۱۹۷۷، د ملکیت د حق درلودلو فصل، ۴ جلد.

۲۰ "د افغانستان په راتلونکي کې د ښځو نقش – د افغانستان لاسته راوړنې او راتلونکي دوامداره ننګونې". د نړیوال بانک ډله. ۲۰۱۳. لومړی فصل. ۲۶ مخ.

۲۱ "د ملکیت درلودلو ته د افغانستان د ښځو لاسرسی، قانون، تطبیق اوخنډونه" QARA مشورتي شرکت. ۲۰۱۱. ۸ مخ.

۲۲ "په افغانستان کې د ملکیت حق ته د ښځو لاسرسی." حرکت- AICFO . می ۲۰۱۱.

۲۳ "د بشري پرمختګ راپور." UNDP ۲۰۱۴. ۱۷۴ مخ.

۲٤ افغانستان په ۲۰۱۵ کال کې، د افغانستان د خلکو یوه سروی؛ کېټ شاوی. د آسیا بنسټ، ۲۰۱۵ کال ۱۴۰ مخ

منې چې ښځو ته د هیواد په اقتصاد کې د پوره ګډون اجازه ور کړي. د اساسي قانون دري ځلویښتمه ماده ځرګندوي چې "دولت به د ښځو په تعلیمي کچه کې په ژور او متوازن ډول د پام وړ بدلون رامنځته کړي، د کوچیانو تعلیمي وضعیت به ښه کړي، او همدارنګه به په هیواد کې د بې سوادۍ د منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي." په تېرو ۱۴ کلونو کې د نجونو د زده کړې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې شویدی. په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو د حاضرۍ نسبت په ۲۰۱۴ کال کې ۴۷.۸ سلنه وه ( ۲۱۰۴ALCS)، که څه هم دا نسبت اوس له ۵۰.۷ سلنې څخه را لویدلی دی (د ملي خطر او زیان منني ارزونه ۲۰۱۱-۱۲).[25] د حاضرۍ نسبت د ثانوي ښوونځیو لپاره (۲۷.۱ سلنه) او د لوړو زده کړو لپاره (۴.۳ سلنه) کموالی په ګوته کوي خو په ترتیب سره (د ملي خطر او زیان منني ارزونه ۲۰۱۱-۱۲) کې له ۲۵ سلنې او ۳.۳ سلنې څخه لږ زیاتوالی ښودل شوی دی. د نورو عواملو تر څنګه، دا عمومي زیاتوالی کوم چې په زده کړې کښې رامنځ ته شوی دی د ښځو د زده کړو د زیاتوالي او ملاتړ د کچې د زیاتوالی لامل شوی وي.[26] (د ملي خطر او زیان منني ارزونه ۲۰۱۱-۱۲)

د کم سواد د کچې په نظر کښې نیولو له مخې، د لوړو زده کړو ټیټه کچه او د بشري پانګې نشتون او په تېره بیا د ۲۰۰۰ کال په لومړیو کې، نړیوالې ټولنې او د افغانستان حکومت د بنسټونو او د خصوصي سکتور د ظرفیت پر ودې په پراخه توګه تمرکز درلود. قانوني چوکاټ، د مالي نظام رامنځته کولو، د زیر بنا برابرولو او سیمه ایزو همکاریو او سرمشریزو غونډو ته د افغان سوداګرو د لاسرسي زمینه برابره کړه. د(۲۰۰۷/۲۰۰۸ – ۲۰۱۲/۲۰۱۳) کلونو کښې د افغانستان د پرمختیایي ستراتیژۍ په چوکاټ کې د خصوصي سکتور د پراختیا لپاره د یو مناسب چاپیریال د جوړولو او پیاوړتیا او هیواد ته د پانګونې په راجلبولو کې هم مرسته کړې. دغه ستراتیژي د خصوصي سکتور د پراختیا په برخه کښې د جندر جلاوالی په کار کې پاته راغلې ده. په دې ستراتیژۍ کې یوازېنۍ وسیله د ښځو لپاره په کلیواله کچه د بې وزلو میرمنو لپاره کوچنیو پورونو ته لاسرسی برابرول وو.

## ۵. ښځې په خصوصي سکتور کی

د فرصتونو او پوهی لپاره د منابعو شتون، جغرافیایی موقعیت، رسمي موسساتو ته لاسرسی چې په هیواد کی د مروجو بیلابیلو دودونو پورې تړلی دی، فرق لري. دا ډول منابعو او پوهی ته لاسرسی په افغانستان کی د ښځو لپاره ډېر محدود دی. په هیواد کی د ښځو سوداګرۍ د نارینه وو د سوداګرۍ سره توپیر لری او د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګرۍ په لوړه کچه د کم ارزښته موادو په تولیدولو باندی تمرکز کوي. ښځو په هیواد کی ډېر مثبت نقش لوبولی دی او کار یی کړی دی تر څو خپل سوداګریز رول کې توپیر را منځته کړي. دا توپیر په یوه ټیټه کچه دی ځکه چې د یوې پرمختللې بنسټ ایښودلو او ودې لپاره زیاتې بشري او مالي پانګې ته اړتیا لري. په ستر مقیاس سره ښځی په اقتصادی فعالیتونو کی چې د خدمتونو، تولید، د خوړو برابرول، او مالدارۍ څخه عبارت دی، بوختې دي .[27]

په ټولیزه توګه په افغانستان کې بازارونه لا تر اوسه په خپل لومړي پړاو کی قرار لري او د دولت له خوا د مقرراتو په جوړولو کې زیاتی مرستې ته اړتیا لری. دا مرسته باید محدوده وی ترڅو سیالي کوونکي بازارونه را منځ ته کړی او

په هیواد کې د رسمي سوداګرۍ ځای غیررسمی سوداګرۍ و نیسي. "په ۲۰۱۶ کال کی سوداګري کول" د نړیوال بانک ډلی راپور افغانستان د پیل له نظره په ۳۴ مقام کې درجه بندي کوي په داسې حال کې چې په افغانستان کې

۲۵ د افغانستان د خلکو د ژوند شرایطو سروی، شپږ میاشتني راپور" د مرکزی احصایی اداره، ۲۰۱۴، ۷ مخ

۲۶ افغانستان په ۲۰۱۵ کال کې، د افغانستان د خلکو یوه سروی". کېټ شاوی. د آسیا بنسټ. ۲۰۱۵ کال ۱۳۹ مخ .

۲۷ ځلورم فصل: د کاری ځواک خصوصیات، ملی خطر او د آسیب منني د ارزونې راپور، د احصایې مرکزي اداره. ۲۰۱۱-۲۰۱۲

د سوداګرۍ د ترسره کولو له نظره په مجموعي توګه په ۱۷۷ درجه بندۍ کې ځای لري. په ستره کچه غیر رسمي سوداګرۍ شتون لري او له ۸۰ سلنې څخه تر ۹۰ سلنې پورې اقتصادي فعالیت په غیر رسمي توګه تر سره کیږي.[۲۸] ډیر لوړ چانسونه شته چې ښايي سوداګرۍ د دولتي پالیسیو د مرستې له لارې ځانته ځانګړې پاملرنه جلب نه کړاي شي چې خصوصي سکتور ته وده ورکړل شي او د نړیوال او کورنۍ اقتصادي غیرې ضروري صدمې څخه د سوداګرۍ محافظت وکړي.




اول جدول : په فرعي قراردادونو کې د ښځو ونډه

د افغانستان د عمومي اقتصادي ودې په لار کې ننګونې او فرصتونه، نړیوال بانک، واشنګټن ډي سي، ۲۰۱۳. **

د هیواد په کارونو کې د ښځو ګډون ټیټ دی که څه هم د ښځو د ګډون اندازه د نارینه وو په پرتله په را کمیدو ده. د ملي خطر او زیان منني د ارزونې د ۲۰۰۷/۰۸ کال راپور کې د ښځو د ګډون اندازه ۷۴ سلنه ښودل شوی دی.[۲۹] د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال د ملي خطر او زیان منني د ارزونې راپور ځرګندوي چې د کارګرو د ګډون اندازه په ۴۸.۸ سلنه وه او د جنډر پر بنسټ یې چې سره جلا کړو د نارینه کارګرو ګډون ۸۱ سلنه او د ښځینه وو ګډون ۱۹سلنه وه.[۳۰] لکه څرنګه چې په لومړي ګراف کې ښودل شوي دي، د ښځینه کارګرو تناسب په تولیدي سکټور پورې محدود دی چې له هغه وروسته د کرهنې سکټور راځي. د رسمي او غیررسمي سوداګرو شوی ښځینه سوداګرۍ به د اقتصادي پیاوړتیا، استخدام، عوایدو د زیاتوالي په برخه کې همکاري وکړي او همدا ډول به په مهمه توګه د ابتکار او خلاقیت پر لور په هیواد کې په سوداګریز چاپیریال کې خپله ونډه تر سره کړي.

د اقتصادي فعالیتونو یوه ستره برخه د کرهنیز سکتور په اقتصاد تمرکز دی چې د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او پر مختګ کې اړین او مهم سکتور ګڼل کیږي. "۴۰ سلنه د کار بازار په کرهنیز سکتور ولاړ دی، مګر زیاتره دا بوختیا په کم تولیدي بنسټ یا د ژوندي پاته کیدو په کچه ده".[۳۱] د ښونو روزل، آبي غنم او پیاوړي مالداري او د څارویو پالنه داسې

۲۸ غیر رسمي والی او د کوچني سوداګرۍ پراختیا د کابل ښار کې،AMMC حرکت جولای ۲۰۱۱، مخ ۲

** دا کیسه د افغانستان په راتلونکې کې د ښځو د نقش څخه اخیستل شوی دی. د لاس ته راوړنو او دوامدارو ننګونو د زیرمې اخیستنه، د نړیوال بانک ډله، ۲۰۱۳ څلورم فصل. ۱۰۰ مخ

۲۹ څلورم فصل: د کارې ځواک مشخصات، ملي خطر او د زیان منني در ارزونې راپور، ۲۰۰۷/۸ مخ ۳۹

۳۰ فصل: د کارې ځواک مشخصات، ملي خطر او زیان منني در ارزونې راپور، ۲۰۱۱-۲۰۱۲ مخ ۳۵

۳۱ د افغانستان د خصوصي سکتور: وضعیت او حل لارې" ریچارد غیاثي، جیای ژاو، هینریک هالګرن نیر، د سویډن د صنعت نړیوالي شورا. ۲۰۱۴. ۱۵ مخ.

ګټـل کیـږي چـې د پراخـه تجـارتي زمینـې درلودونکـي دي" او "پـه چټکـۍ سره کارونـه رامنځتـه کـوي او عایـد زیاتـوي".[۳۲] د مالـدارۍ پـه برخـه کـې د ښـځو کاري ځـواک "لـه شـک پرتـه لـه نارینـه ځخـه زیـات دی".[۳۳] د بڼونـو روزلـو او مالـدارۍ فرعـی سـکتورونو ځخـه کرهنیـز تولیـدات د افغانسـتان د صادراتـو زیاتـره برخـه تشـکیلوي.[۳٤]

د نړیوالـو ایتلافـی ځواکونـو شـتون او د هیـواد د بیـا جوړونـې لپاره د بیارغونـې پـه کارونـو کـې د هغـوی لګښـتونه د ۲۰۰۱ کال ځخـه وروسـته د پیسـو د زیـات راتـګ شـاهد وه او د بیارغونـې پـه کار کـې ډیـر پرمختـګ را منځتـه شـو. د ښـځو استازیتوب د بیارغونـی پـه کار کـې ډیـر لـږ و او یـو شـمیر سـاختماني شرکتونـو شـتون درلـود چـې د ښـځو لـه لـوري اداره کیـدل خـو ځرنګـه چـې د ۲۰۱۶ کال د سـوداګرۍ کولـو پـه راپـور کـې ښـودل شـوی دی دا فرعـی سـکتور سـتري پانګـی تـه اړتیـا لـري. لمړنـۍ پانګـه چـې د دې سـوداګرۍ او تجـارت لپـاره ورتـه اړتیـا ده د ښـځینه سـوداګرو لپـاره هغـه تـه لاسرسـی ممکـن نـه دی.

صنایـع د افغانسـتان د رسـمی کـورني ناخالـص تولیـد شـاوخوا ۲۲ سـلنه جـوړوي.[۳۵] چـې شـاوخوا ۹۰ سـلنه تولیـدی صنعـت د کرهنیـزو محصولاتـو د پروسـس ځخـه عبـارت دی.[۳٦] پـه صنایعـو کـې پانګونـه د اوږدی مـودی لپـاره لـه خطـره ډکـه ښـکاري ترڅو پوخوالـی وموميـ او افغانـی سـوداګر تمایـل لـري چـې ژر ګټـه لاسـته راوړونکـو سـوداګریو کـې بوخـت شي ځکـه هغـه لـږې پانګـې تـه اړتیـا لـري.[۳۷] د صنایعـو د پیاوړتیـا د هڅونـې لپـاره د افغانسـتان د پانګونـی د ملاتـړ اداره (AISA)، د سـوداګرۍ او صنایعـو وزارت صنعتـی پارکونـه چـې اوبـو او برښـنا تـه ښـه لاسرسـۍ ولـري، اړتیـا لـري. پـر دې سربیـره، د افغانسـتان د پانګونـی د ملاتـړ اداري او د سـوداګرۍ او صنایعـو وزارت یـو ځـه کار کـړی ترڅـو د ښـځینه سـوداګرو لپـاره هڅونکـې آسـانتیاوې وړانـدې کـړي چـې پـه صنعتـی پارکونـو کـې خپلـې کوچنـۍ او منځنـي سـطحې سـوداګرۍ پـر مـخ یـوسي تـر څـو د ښـځو د سـوداګرۍ وده و هڅـوي.[۳۸]

پـه همـدې توګـه د سـوداګرۍ او صنایعـو وزارت" د وارداتـو معاوضـوي "اصـول جـوړ کـړي دي چـې د سـکتورونو پـه مشـخص کولـو سره صـادرات زیـات کـړي چېـرې چـې کورنـی تولیـدات پـه سـیالۍ ولاړ دي او پـه نښـه شـوي فرعـی سـکتورونه د کرهنیـزو محصولاتـو پروسـس، د ځارویـو پوسـتکې او ځرمنـې، غالـۍ، سـاختماني چـارې، د مرمرو ډبـرې او قیمتـي کانـي دي.[۳۹] افغانسـتان د منفـی جـاری حسـاب بیلانـس (یعنـې د عایـد ځخـه زیـات لګښـت) پـر مـخ وړي او لکـه ځرنګـه چـې کـورني تولیـدات ضعیـف دي، نـو وارد شـوي مالونـه مصرفـوی. پـه تیـرو کلونـو کـې اقتصـادي ځوړتیـا سره بیـا هـم، د سـوداګرۍ لرلیـد د وروسـتیو دوه کلونـو لپاره مثبـت وه چـې پـه هغـو کـې پـه عمـده توګـه کرهنیـز تولیـدات شـامل دي او د ٦۰ سـلنې ځخـه زیـات صـادارات جـوړوي.[٤۰] یـو منطقـي دلیـل کېـدای شي پـه تیـرو دوو کلونـو کـې د کورنیـو پـه لګښـت کـې کمـوالـی وي چېـرې چـې مـصرف کوونکـو د وارد شـویو مالونـو لپـاره کـم تمایـل ښـودلی دی. د صـادر شـویو مالونـو پـه جملـه کـې زیاتـره دودیـز مالونـه لکـه غالـۍ، میـوه، مغـز لرونکـې میـوې، سـابه، غـوړي، طبیعـی بوټـۍ، او ځرمـن شـامل دي. پـه وارد شـوو اجناسـو کـې زیاتـره د سـونګ معـدني توکـي (معـدني تیـل)، د پخلـي غـوړي، د خـوړو سـابه، لبنـي محصـولات، قهـوه، چـای، نوشـابې، او د خـوړو مصالحـې شـاملې دي. لومـړی او دوهـم جـدول پـه لومـړۍ ضمیمـه کـې د کال پـه حسـاب د افغانسـتان د صادراتـو او وارداتـو

۳۲ د افغانستان د خصوصي سکتور: وضعیت او حل لاري" ریچارد غیاثي، جیای ژاو، هینریک هالګرن نیر، د سویډن د صنعت نړیوالې شورا. ۲۰۱٤. ۱٦ مخ.

۳۳ ځلورم ځپرکی: د کار ځواک خصوصیات، د ملي خطر او د حساسیت د ارزونې راپور، ۲۰۱۱-۲۰۱۲، ۳۵ مخ.

۳٤ لاسرسی د دسمبر په ۱۹، ۲۰۱۵. http://cso.gov.af/en/page/economy-statistics/٦۳۲۳/annual-trade

۳۵ "د انتقال په ترڅ کې د ودې ۲۰۱۲-۲۰۱۵." د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت . اکتوبر ۲۰۱۲.

۳٦ لاسرسی د دسمبر په ۱۹، ۲۰۱۵. http://data.worldbank.org/indicator/NV.IND.TOTL.ZS

۳۷ "د افغانستان سوداګر غواړي، د افغانستان په اقتصاد کې د خصوصي سکتور د ودې ملاتړ." جیک کاسک، ایرک، مالمستروم. کافمن د تصدیو بنسټ. د نومبر ۲۰۱۰ . ۴ مخ.

۳۸ د پانګونې د پراختیا د اداري د برخې د مشر سره د لیکوال مرکه

۳۹ " د کوچنیو او متوسطو تصدیو ستراتیژي، د افغانستان د کرنیزې سوداګرۍ د سکتور د پراختیا د اړتیاو د سوداګرۍ سکتور د عمل پلان پلې کول."

٤۰ "د افغانستان د اقتصاد په اره تازه معلومات." نړیوال بانک. اپریل ۲۰۱۵. ۱۵مخ

ونډه او خالص ارزښت په ګوته کوي.

# ٦. لومړنۍ موندنې

د بې وزلۍ د کچې په پام کې نیولو سره لا تر اوسه هم د افغانستان د نفوس ۳۶ سلنه په بې وزلۍ کې ژوند کوي او نور ۴۰ سلنه د زیان منني د ټکانونو سره د مخامخ کیدو د خطر سره مخ دي، له همدې امله د ښځو لپاره اقتصادی فعالیتونه د ژوند د تیرولو اړینه چاره ده. سیاسی نازک حالت او نا امنۍ زیاتره وخت په بازار کې د ښځو په اړه لرلید انځوروي. په هر حال، د ښځینه سوداګریو اقتصادی اغیز د هغوی د کورنیو لپاره کیدای شي په ځانګړې توګه بیوزلو لپاره مهم وي، همدارنګه د ډیرو دندو په پیدا کولو کې یو مثبت اغیز لري. په دې اړه د بازار څغلنده ارزونې (RMA) څخه لاسته راغلي معلومات ښه ثبوت وړاندې کوي. د ۳۰ څخه د ۱۷ سوداګرۍ د دې مطالعې پر بنسټ خلکو ته د کار ورکولو راپور ورکړی دی. د هغو کارکونکو شمیر چې دوی ګمارلی دی[٤١] شمیر یې شاوخوا ۴۴۲ پوری نارینه او ښځینه ته رسیږی.

دوهم ګراف : رامنځته شوی دندې




د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګرۍ د ځان د بوختیا یا د نورو په کار ګمارنې د فرصت برابرول د سوداګرۍ تر سره کولو په برخه کې توپیر درلود ځکه چې کېدای شی هغه د کار په بازار کې د هغوی د تعلیم، پوهی او تجربی د سطحی پوری تړلی وي. هغه کسان چې نالوستې دي او کوم ملاتړ چې د هغوی د سوداګرۍ د ترسره کولو د دودیزو لارو پورې تړلې دی، نه دی ترلاسه کړی. د بیلګې په توګه، ښځې په یوازې ځان جامې ګنډي کوم چې د هغو موجوده پیریدونکو پورې تړاو لري او پیریدونکې یی زیاتره د هغوی ګاونډیان دي چې په نویو پیریدونکو کې یی را شاملوي. هغه ښځې چې لوړې زده کړې لري د بیلابیلو موسساتو څخه یی یو څه ملاتړ ترلاسه کړی چې ډیرو عصری تخنیکونو سره د خپل کار د سر ته رسولو په خاطر بلد شوي دي، تر څو خپله سوداګري په ښه توګه پر مخ بوځي. یوه سوداګره ښځه چې په دې وروستیو وختو کې یې خپله سوداګري د پروان څخه کابل ولایت ته را نقل کړی دی بازار موندنه په خپله د کورونو څخه د لیدنو او ملاقات کولو له لارې ترسره کوي ترڅو د لمریزې انرژی استعمال او بریالیتوب مشخصه کړي. دا ښکاره ده چې هغه ښځې چې د کور څخه بهر په کار بوختې دي یو څه محدودیتونه لري. هغوی د سوداګرۍ د ترسره کولو بیلابیل نظر درلود، ځکه هغوی ته اجازه نه ورکول کېده چې د کوره بهر زیات تګ را تګ وکړي.
د کورنۍ غړي لکه خاوند، ورور، یا کوچنیان د هغوی د سوداګرۍ لپاره مهم دي. د بازار سره سروکار لرل یا د نورو

٤١ د ښځو ګڼ شمیر د خپل کور څخه کار کوي خو د لاسي صنایعو په جوړولو کې د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې پیسې تر لاسه کوي. هغه کاري فرصتونه چې د سروې شوو سوداګر له خوا برابرې شوې دي د هغو ګمارنو سره مناسبې دي کومې چې د احصایې مرکزي اداري له خوا منل شوي دي: دندې په دې ډول تعریف شوي دي: "ټول هغه کسان چې ۱۴ کلن او یا له هغه لوړ عمر لري، د یوې مطلوبې اونۍ په موده کې، په مزد لرونکي سوداګرۍ کې یا د ځان ګومارنې له لارې لږ تر لږه ۸ ساعته کار کړی دی.

سوداګرو سره معاملات د هغوی د کورنۍ د غړو تر سره کیږي او د ښځو په واسطه د سوداګرۍ تر سره کیدل بیا هم محدود دي. زیاتره وخت نارینه کارکونکي ګمارل شوي تر څو دوی سره کار وکړي او هغه مالونه چې دوی پر دکاندارانو او عمده پلورنکو باندې د خرڅلاو لپاره تولید کړي، هلته یوسي. په ورته ډول، نارینه کارکوونکي (د هغوی د کورنۍ د غړو په ګډون) د هغوی د تولید / او خدماتو لپاره له بازار څخه خام مواد را نیسي. هغه سوداګرې ښځې چې مرکې ور سره تر سره شوي په دې باور دي چې خلک اوس هم نه غواړي چې ښځې دې د سوداګرۍ درلودونکې وي او د نارینه په څیر دې کارونه تر سره کړي. لاندې (دریم ګراف) د هغو ځوابونو لنډیز وړاندې کوي په کومو کې چې د ښځو د سوداګرۍ په اړه د ټولنې د پوهې کچه تشریح شوې ده. هغه کسانو چې د "ښه" په کلمه یې ځواب ورکړی زیاترو یې د خپل کور څخه خپل ځان پر دندې ګمارلی دی. د (x) محور ځواب ورکونکو پوهه وړاندې کوي او د (y) محور د هرې مربوطه پوهې په تړاو د ځواب ورکوونکو شمېر وړاندې کوي.




په عمومي ډول فرصتونه د دواړو جنسونو لپاره برابر دي او تر ډیرې اندازې پورې فرصتونه د دولتي او په عمده توګه د مرسته برابرونکو ادارو د مرستې له لارې را منځ ته شوي دي. د مثال په توګه یوه ښځینه سوداګره[۴۲] ۱۰ کاله وړاندې د ښځو د حقوقو د مدافع له خوا په ښځینه باغ کې (هغه باغ چې د ښځو لپاره جوړ شوی و یوازې ښځې هغه باغ ته لاسرسی لري) را وبلل شوه د خبرتیا لپاره هغې د امریکا د نړیوالې پراختیایي مرستو ادارې"Idea New" پروګرام ته لاره و موندله. هغې د USAID له لارې ملاتړ ترلاسه کړ تر څو د هغه په مرسته د خوراکي توکو یوه کوچنۍ کارخانه جوړه کړي. په هرحال، داسې فرصتونه د هغو ښځو لپاره د لیدو وړ نه دی کوم چې د کور څخه بهر تللو ته اجازه نه لري، څرنګه چې په عمده توګه د فرعي سکتور په چوکاټ کې د ښځې ګټونکې په توګه خپله سوداګري له خپل کور څخه پر مخ وړي.

۴۲ د محرمیت د هوکړې له مخې، لیکوال د ځواب ویونکوسوداګرو ښځو نوم / موقعیت / کارولو څخه ډډه کړې.




ځلورم ګراف: په عايد لاسته راولو کې د ښځو ونډه

د ډېرو لپاره د سوداګرۍ يا دندې پريکړه د کورنيو سره د عوايدو په زياتوالي او خپلو کورنيو سره د کور د لګښتونو د ګټونکو په توګه د هغوی ملاتړ دی، چيرې چې د لوړو زده کړو لرونکو ځواب ويونکو هم د خپل کار سره د علاقې څرګندونه کړې ده. د هغو ښځو لپاره د سوداګرۍ غوراوی چې سواد نه لري د بازار په اړه د محدود معلومات او يا معلومات د نشتوالي له امله د خپل چاپيريال له خوا اغيزمنې کيږي.[43] د سوداګرۍ غوراوی چې د هغوی د کورنۍ د ميراثي سوداګرۍ يا د هغو په ګاونډ کې چې ور ته کاروونه تر سره کوي او لاسرسی ور ته آسان دی، اغيزمن کيږي.

هغه ستونزې چې ښځينه سوداګرې ورسره مخامخ دی ډيرې زياتې دي او د هغوی د سوداګرۍ د ځرنګوالي پورې تړاو لري، د بازار تجربه او د سوداګرۍ موقعيت په بيلابيل ډول د هر خنډ اندازه او مشکلات اټکلوي. ټولنيز او کلتوري خنډونه هغه چا ته چې د کوچنۍ او منځنۍ کچې سوداګرۍ يې پيل کړې دي او هغه چا ته چې پيرودونکي يې يوازې ښځې دي د لږو ستونزو سره مخ وي. دا حالت عموميت نه لري ځکه چې يوازې په کابل کې د ښځو د ملاتړ لپاره دا تيره لسيزه ډير کار شوی دی کوم چې عمومي حالت تر يوې اندازې بدل کړی دی، خو بيا هم د کار پر وخت ډار له منځه نه دی تللی او د ښځو سوداګرو لپاره کور او بازار دواړه د انديښنې سبب دی. ځواب ويوونکو راپور ورکړی چې ښځې په عمومي توګه اجازه نه لري چې د کور څخه بهر ګام پورته کړي يا د بهر سره اړيکه ټينګه کړي تر څو سوداګره يا کارکوونکې شي. د کوچنۍ پور برابرونکي موسسات د ښځينه مشتريانو په اړه بشپړ معلومات تر لاسه کوي تر څو هغوی ته پور تر لاسه کړي، په عملياتي کچه په ولاياتو کې چيرې چې د کوچنيو پورونو برابرونکي اداري فعالې دي، يو ګواښ ګڼل کيږي.[44] سره له دې هم، د کوچنيو پورونو ورکونکې اداري په ځانګړې توګه په دې خاطر په دندو ګمارلې دي چې د ښځينه سوداګرو سره د را کړې ور کړې شرايط برابر او دا سهولت مساعد شي چې هغوی پورونه تر لاسه کړي، لا تر اوسه ډيری ښځې نه دې تيارې چې خپل عکس ور کړي او يا نور شخصي معلومات وړاندې کړي، کوم چې د پور د تر لاسه کولو لپاره اړين دي.

د ښځينه سوداګرۍ د پرمخ بيولو لپاره دوه ځانګړنې اړينې دي او د ټولو تر منځ يو شان دي:

١. هغه سوداګرې چې سروی ور سره تر سره شوې دي د سوداګرۍ په برخه کې د خپلې کورنۍ د نارينه غړو يو ډول ملاتړ او يا د هغوی بوختيا ور سره مل ده او ډيرې لږې يې په يوازې ځان توګه خپله سوداګري پرمخ وړي. د هغوی د کورنۍ نارينه غړي د بازار او مشتري سره د هغوی په استازيتوب سوداګريز معاملات تر سره کوي.

٤٣ هغه "چاپيريال": بايد په پراخه کچه توضيح شي چې په هغه کې کلتوري / اجتماعي آزادي شامله ده.

٤٤ د افغانستان د کوچنيو پورونو د ټولنې له مشر سره مرکه.

۲. د ټولو ښځو لپاره چې مرکې ور سره شوي دي اصلا لا تر اوسه هم کور د کار د ځای په توګه پاته دی چې دا کار دوه دلایل لري. االف) که د کار لپاره ځای په کرایه را ونیول شي نو د ځای څښتن تري ډیره کرایه غواړي او ب) د سوداګرۍ څخه لاسته راغلی عاید دومره نه دی چې نور اضافي لګښتونه لکه د بیلګې په توګه د برښنا تجارتي نرخ او لګښت، پوره کړای شي.

سوداګرو راپور ور کړی چې مالي سهولتونو او ملکیت ته لاسرسی عمده خنډونه دي چې هغوی ور سره لاس او ګریوان دي. هغو چې د بانکونو څخه یې پورونه تر لاسه کړي د بانکونو د سود د لوړ نرخ او بیرته لوړ پور لنډولو څخه سر ټکوي. نورو بیا له دې امله نه شو کولای چې پور تر لاسه کړي چې د تضمین لپاره یې شتمني او یا څمکه نه درلوده. د اسلامی بانکدارۍ/ مالی کړکی په اړه پوهه، چې په پرتلیزه توګه نوی سیستم دی، او کوچني پورونه چې د کوچنیو پور ورکونکو ادارو له خوا ورکول کیږي یا ډیر محدود او یا هیڅ شتون نه لري. پنځم جدول په ګوته کوي چې د ۳۰ سوداګرو له جملې څخه چې سروې ورسره تر سره شوې ۱۵ یې ویلي دي چې هغوي سره د خپلو کورنیو (زیاتره پر خپلو میړونو) باندې تکیه کړې ده او د خپلې سوداګرۍ لپاره یې له هغو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کړی او میړونو یې د هغوی د سوداګرۍ ملاتړ کړی دی.




د فرصتونو او سوداګرۍ په اړه د عمومی معلوماتو خپریدل د هغو سوداګرو په منځ کې چې سروې ور سره تر سره شوې ډیر محدود دي. د خصوصي، دولتي او نادولتي موسساتو په اړه معلومات یا محدود او یا د نشت سره برابره وه. هغه چا چې ویلي چې داسې ملاتړ څخه خبر دي هغوی و نه شو کړای چې د کومې موسسې یا اداري نوم واخلې او پیسو ته نه لاسرسی یې د عمده خنډ په توګه ښودلی دی. په داسې حال کې کومې ښځې چې د کورنۍ له خوا بازار ته د تلو په برخه کې د لږو خنډونو سره مخ وې د رسمي موسساتو د مرستې او ملاتړ په اړه یې ډیر معلومات درلودل. هغه سوداګرې ښځې چې سروې ګانې ور سره تر سره شوې غواړي چې د خپلو پیرودونکو او ګاونډیانو څخه څوک چې د هغوی په ګاونډ کې سوداګرۍ لري معلومات تر لاسه کړي. هغو سوداګرو چې فني مهارتونه یې ترلاسه کړي او روزل شوې وې بیلابیلې کړنلارې یې په کار اچولې وې تر څو په بازار کې د تولیداتو په اړه معلومات حاصل کړي. د بیلګې په توګه، د کالیو ګنډلو او خامک ښځینه سوداګرې په معمولې ډول د پیریدونکې په حیث د ټوکرانو بازار کې څرګندیږې ترڅو د

نوي فيشن او ډيزاينونو په اړه چې سترو هټيو ته راوتلي ځان پوه کړي او د ټوکرانو سترو هټيو څخه د نوو توليداتو په اړه معلوماتو غوښتنه وکړي. د بازار معلومات هغو سوداګرو پورې محدود شوی وو چا ته چې د خپلې دندې په موخه په منظم شکل سره د کور څخه بهر د تللو اجازه ورکړل شوی وه او هغه چا ته چې د رسمی موسساتو څخه يې يو ډول ملاتړ ترلاسه کړی دی. هغه سوداګرې ښځې چې ډېرې ستونزمنې سوداګرۍ پر مخ وړي دا خپلواکي درلوده چې په خپله خپل تصميم و نيسي چې دې حالت بيا د چرګانو ساتلو، خياطۍ، او مالدارۍ په برخو کې واقعيت نه درلود.

پر امنيت برسيره نور ګواښونه او خنډونه چې د سوداګرۍ د نوعيت له نظره سوداګرې ښځې ور سره مخ دی بيل بيل عوامل لري، مګر په عامه توګه ګواښونه او خنډونه ټول يو شان دي. امنيت په ځو ځو ځله د عمومی خنډ په ګوته شوی دی او ځانګړي امنيتي موضوعات لکه ټولنيز ګواښ د ۴ سوداګرو له خوا ياد شوی دی. امنيت په ټول هيواد کې د يوې ننګونې په توګه پر خپل ځای پاته دی او د دی مطالعې موخه په ډېرو تفصيلاتو د هغو نه ورانديې کول د امنيت له امله دي او د هغو له نظره غورځول نه ګڼل دي. سوداګرو لاندينيو خنډونو ته اشاره کړې ده:

- مالي آسانتياو (پيسو) ته لاسرسی: پيسو ته د لاسرسی عمده خنډ ټولنيز او د کورنې محدوديت عامل دی. چېرې چې سوداګرو دا انديښنه درلوده چې د هغوی د کورنيو غړي د دوې پر وړتياو ډېر لږ او يا هيڅ باور نه لري تر څو هغوی ته دا تضمين برابر کړي چې د بانک له خوا يې غوښتنه کيږي او يا د يو تضمين کوونکي په حيث د کوچنې پور اداري ته ور وړاندې شي. د کابل په ولايت کې رسمي مالي ادارو ته د نورو ولايتونو په پرتله لاسرسی ډېر دی.

- د ملکيتونو درلودل: ملکيتونه يا ځمکې ته لاسرسی د پورونو د تر لاسه کولو لپاره د يو عمده عامل په توګه د يادونې وړ دی، ځکه چې ښځې په کلتوری لحاظ د خپلو حقوقو او د ملکيت د ميراث اخيستلو څخه بې برخې دي.

- ټولنيز خنډونه: د سوداګرو ښځو لپاره چې په کابل کې يی سوداګري پيل کړې ده دا د لږې انديښنې وړ ښکاري، مګر په عام ډول د ټول نفوس لپاره يو عمده خنډ ګڼل کيږي. سوداګرو ښځو راپور ورکړی چې په کابل کې چاپيريال د ښځو لپاره په تيره لسيزه کې ډېره وده کړې چې کار وکړي، مګر بيا هم د آزار او ځورونی انديښنې يا ګواښ لا تر اوسه هم پر خپل ځای دی.

- د کار ځای: د اجناسو د توليد په صنعت کې د سوداګرو ښځو لپاره د بريښنا لوړ لګښت او کرايه د انديښنې وړ وه چې د خپل توليد لپاره يو ځرګند ځای غوره کړي. له دې وروسته هغوی خپله سوداګري له خپلو کورونو څخه پرمخ وړله، مګر دې سوداګرۍ د هغوی لپاره يوه ستره ننګونه پر ځای پريښې ده چې له کور څخه خپلې سوداګرۍ ته وده ورکړي.

سروې شوو سوداګرو چې کوم خنډونه په ګوته کړې دي په لاندې ګراف کښې ښودل شوي دي.




د ښځو سوداګرو پر وړاندې خنډونه

د اسـناد د ارزونـې په تـرڅ کې، د هغـو خنډونـو یـا موانعـو شـمېر پـه ګوتـه شـوی چـې د سروې ځـواب ورکوونکـو لـه خـوا یـې هـم یادونـه شـوې ده. د درجـو ورکولـو د یـو کارت پـر بنسـټ د غـوره شـوو خنډونـو اسـناد د کارولـو لپـاره برابـر شـوې وو. دا کارت بـه مرسـته وکـړي تـر څـو د خنډونـو او یـا موانعـو د پوهیـدو پـر بنسـټ د خپلـې شـخصي تجربـې او پوهـې او یـا دواړو لـه لارې د ښـځو د واکمنـۍ کچـه وټاکـي. د انـدازه کولـو مقیـاس د (۰-۴)، د یـو خنـډ پـه توګـه نـه ګڼـل کیـږي او د (۰-۴) د یـو جـدي خنـډ پـه توګه ګڼـل شـوی. د خنډونـو څخـه پـه عمـودي او افقـي قطارونـو کـې ورکـړل شـوې معلومـات هغـه اړونـده درجـې دي چـې د ځـواب ورکونکـو شـمېر منعکـس کـوي.

۰ - هيڅ نه، ۱- ډېر نه، ۲- تر يوې اندازې، ۳ – ډېر، ۴ - ډېر زيات

| ګڼه | د خنډونو/موانعو پېژندنه | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ټولنيز - کلتوري موانع (د کور څخه بهر کار کولو باندې) | ۴ | ۳ | ۶ | ۸ | ۶ |
| ۲ | رشوت | ۱ | ۲ | ۵ | ۴ | ۱۲ |
| ۳ | د شته فرصتونو کموالی (يعنې د پانګونې فرصتونه او د سوداګرۍ فرصتونه) | ۱ | ۰ | ۶ | ۱۳ | ۴ |
| ۴ | مالي سرچينو ته نه لاسرسی | ۰ | ۳ | ۱ | ۲ | ۱۸ |
| ۵ | ځمکې ته نه لاسرسی (يعني ځمکه د يوې شتمنۍ په توګه. د پيرلو يا ميراث له لارې د تضمين يا وثيقې لپاره) | ۰ | ۳ | ۱ | ۲ | ۱۸ |
| ۶ | لمړنيو زيربناو لکه برښنا او اوبو ته لاسرسی | ۶ | ۳ | ۳ | ۸ | ۴ |
| ۷ | په کار پوهو کارکونکو نه شتون | ۵ | ۵ | ۳ | ۵ | ۶ |
| ۸ | د توليد ته د ودې ورکولو نا توانی (يعني د توليد وده او توليد ته بازار موندنه) | ۳ | ۲ | ۶ | ۷ | ۶ |
| ۹ | د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره د ملاتړ برابرونکي ادارې (يعني هغه تخنيکي ملاتړ چې سوداګرۍ ته د خصوصي يا دولتي سکتور او غيرانتفاعي موسسو له لارې پراختيا ور کړي) | ۰ | ۲ | ۲ | ۵ | ۱۵ |

ټولنيز- کلتوري محدوديتونه، رشوت، ځمکې ته د لاسرسي نشتوالی، د مالي او سوداګرۍ د پراختيا د ملاتړ کوونکو نه شتون سوداګرې ښځې سختو محدوديتونو سره مخ کړې دي. د شته فرصتونو نشتوالی د ښځينه سوداګرو د کار په لار کې تر "ټولو ستر خنډونه" دي چې د فرصتونو اړوند پورتني بحث سره تړاو لري چې د دولت يا مرستندويه ادارو په مرسته رامنځ ته شوي دي.

## ۷. د درجو ورکولو جدول:

د درجو جدول د متخصصو نظر ورکونکو يو شاخص دی چې د هغوی د پوهې او تخصص پر بنسټ ولاړ دی، او په علمي ميتود چې پر احصاييو يا شواهدو پر بنسټ د بازار د بيلا بيلو برخو د بريالیتوب انځور وړاندې کړي ولاړ نه دی. (۷) ملي مسلکي کارپوهانو خپل نظر چمتو کړی ترڅو هر فرعي سکتور ته د (x) د محور له مخې د (y) محور ته يوه درجه ورکړي. دغه فرعي سکتورونو د هېواد په اوسني موجوده بازار کې ګڼ شمېر ښځې جذب کړي دي چې په تيرو برخو کې شودل شوي دي.

| ګڼه | نمره/فرعي سکتور | جامي | د څارويو روزنه | د لبنياتو جوړول | د باغونو پالنه | پرچون پلورنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د بازار اندازه (۱= ټيټه، ۴ = لوړه) | ۲۶ | ۲۱ | ۲۳ | ۱۹ | ۱۸ |
| ۲ | دولتي او نا دولتي ملاتړ (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۴ | ۱۶ | ۱۴ | ۱۵ | ۱۰ |
| ۳ | بازار ته ننوتل (۱ = ټيټ، ۴ + لوړ) | ۲۷ | ۲۵ | ۱۸ | ۲۱ | ۱۲ |
| ۴ | د بازار د ودې فرصتونه (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۴ | ۲۴ | ۲۴ | ۲۴ | ۲۲ |
| ۵ | د توليداتو / خدماتو اړتيا (کورنۍ او بهرنۍ) (۱ = ټيټه، ۴ = لوړه) | ۲۵ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۷ | ۱۹ |
| ۶ | د ښځو شتون (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۵ | ۲۴ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۰ |
| ۷ | د ښځو شتون چې بازار ته ننوځي (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۶ | ۲۵ | ۱۸ | ۱۸ | ۱۶ |
| ۸ | د ښځو تر ملکيت لاندې د کوچنيو او منځنيو سوداګريو د ودې فرصتونه (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۷ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۲ |
| ۹ | اړينه پانګه (۱ = ټيټه، ۴ = لوړه) | ۱۹ | ۱۸ | ۱۴ | ۱۸ | ۱۸ |
| ۱۰ | د سرچينو شتون (بنسټيزه زيربنا، انساني پانګه، پيسو ته لاسرسی او داسې نور.) (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۰ | ۲۰ | ۱۳ | ۲۰ | ۱۴ |
| ۱۱ | د ښځو په مخ کښې پراته خنډونه (۱ = ټيټ، ۴ = لوړ) | ۲۲ | ۲۲ | ۱۷ | ۱۷ | ۱۰ |
| | مجوعه = درجه ورکول | ۲۶۵ | ۲۴۵ | ۲۰۱ | ۲۱۶ | ۱۷۱ |

د ۱ – ۴ پوړي ورکول شوو درجو (نمرو) پر بنسټ داسې ښکاري چې د هرې بلې برخې څخه د سوداګرو ښځو لپاره د جامو بازار يوه پايښت لرونکې برخه ده، چې له هغه وروسته په يو په بل پسې د څارويو روزنه او بڼونو پالنه راځي – د کارپوهانو له نظره پرچون پلورنه د ښځو لپاره په بازار کې يوه ښه فرصت دی خو د ښځو پر وړاندې پراته خنډونه د دې کار مخه نيسي. دغې څېړنې د سکتورونو ډلبندي په لاندې ډول کړې ده:

| د فرعي سکتور ډلبندي | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جامې | لاسي صنعت - له هغو پرته چې لاندې ياد شوي | بنوالي | د نباتي غوړيو توليد | د لبنياتو توليد او جوړول | د کرهنې او يا لبنياتو د دستګاه له لارې د شيدو توليد | د څارويو ساتنه | حيواناتو ته خواړه ورکول |
| | د وړيو اوبدل | | بوټي | | | | |
| | خياطي | | د ونو پالنه | | | | وابنه را ټولول |
| | خامک ګنډل | | طبي بوټي | | د مستو توليد د فارم يا لبنياتو د دستګاه له لارې | | |
| | قاليني او ټغرونه | | مرخيړي (ماشروم) | | | | څاروی |
| | | | ميوې | | | | |

که څه هم دا د بازار د بېلا بېلو برخو لپاره يوه معياري ډلبندي نه ده خو له دې څخه د فرعي سکتور لاندې نړدې اړوند سوداګرۍ سره را يو ځای کوي.

## ۸. نتيجه

په ټولنه کې د ښځو منلو په لار کې يو لوی خنډ چې ښځې محدودوي: دا د کور څخه بهر کار باندې اغيز لري، او د کار د نوعيت غوراوی محدودوي او د ملکيت د لرلو مخه نيسي. دوديزه سوداګري تر يوې اندازې د منلو وړ ده چې په هغو کې په کور دننه کار کول شامل دي بلکې د ټولنيز تبعيض له امله د نورو عصري سوداګريو په برخه کې برياليتوب زياتره د کورنۍ د ملاتړ پورې تړلی دی. په ځينو مواردو کې په دې تکيه د هغوی د سوداګرۍ لپاره د تصميم نيونې رول ته زيان رسوي.

په ټولنه کې د ښځو موقف د مالي منابعو د کميدو سبب ګرځيدلې او د زده کړې له لارې يې د پوهې مخه ډب کړې ده. د سوداګرۍ او تجارت په برخه کې د ښځو پر ځواکمنتيا د نارينه وو د باور نشتون د سوداګرو ښځو لپاره يو په شاتګ دی. هغه ستونزې چې ښځې ور سره په مالي برخو کښې مخامخ دي عبارت دي له:

۱. د کار د پيل (شرکت جوړولو) لپاره د لومړني پانګې پيدا کول
۲. د داسې يو ضمانت اړتيا چې د رسمي ادارو څخه د ماليې مرستې د تر لاسه کولو امکانات برابر کړي
۳. ښځې د رسمي منابعو څخه د پور د تر لاسه کولو يا مالي خونديتوب له نظره د نارينه وو په پرتله د ستونزو

سره مـخ دي.

داسې برېښـېده چـې حرفـوي زده کـړې تـر يـوې انـدازې پـورې ګټـورې دي، خـو دا ځيـړنـه نـه شي کـولای د روزنـې د عمومي معيارونـو د ارزونـې پـه موخـه کار ور کـړي، کـه څـه هـم هغـو ښـځو چـې روزنـه يـې تـر لاسـه کـړې پـه لـوړه کچـه د خوښـۍ څرګندونـه کـړې ده. بـې سـوادي او د خلکـو د پوهـې نشـتوالی د سـوداګرو ښـځو پـر وړانـدې يـو خنـډ دی، ځکـه داسـې روزنـې بـه بـې سـواده سـوداګرې اغيزمنـې او سـوداګر بـه پـه خپلـه اغيزمنمتيـا و نـه پوهيـږي.

## ۹. د پاليسۍ سپارښتنې

دغې څېړنـې د سـوداګرو ښـځو پـه ملکيـت کـې سـوداګرۍ آزمايلـې تـر څـو هغـو خنډونـو تـه پاملرنـه وشي چـې د ښـځو تـر ملکيـت لانـدې هلـو ځلـو پـه لار کښـې خنډونـه جـوړوي، پـه نښـه کـړي. د سـوداګرو ښـځو اغيـز پـر اقتصـادي وده د پـام وړ دی او کـه چېـرې د دوی وړتيـا پـه کار واچـول شي، نـو هغـوی کـولای شي پـه بـازار کـې د راتلونکـو فرصتونـو پـه رامنځتـه کولـو کـې خپـل نقـش ولوبـوي. د پاليسـيو جوړونکـي کـولای شي چـې:

- پـر جنـډر ولاړې د اقتصـادي ودې ځانګـړې سـتراتيژۍ سـوداګرو ښـځو تـه ډاډ ورکـوي چـې لـه داسـې سـتراتيژيو څخـه پـه لـوړه کچـه (اعظمـي) ګټـه ترلاسـه کـړي.

د خصـوصي سـکتور د پراختيـا سـتراتيژۍ لکـه د اقتصـادي ودې پـه څيـر سـتراتيژۍ بايـد يـو لـه بـل سره د جنـدر پـر بنسـټ جلا شي ترڅـو دا ډاډ تـر لاسـه شي چـې د ښـځو پـه اقتصـادي فعاليتونـو کافي او اړيـن تمرکـز شـتون لـري. متمرکـزه پاملرنـه بـه د ښـځينه سـوداګريو لپاره يـو ځواکمـن فرصـت برابـر کـړي چـې دا بـه د ښـځو لپاره يـو مناسـب سـوداګريز چاپيريـال برابـر کـړي. د افغانسـتان پـه شـان هيوادونـو کـې د ښـځو پـه پرتلـه د نارينـه وو لپاره کاري فرصتونـه ډيـر زيـات ځرګنـد او پـه آسـانۍ سره د پوهيـدو وړ دی. ځانګـړې پاليسـۍ او سـتراتيژۍ بـه پـه ټولنـه کـې د ښـځينه سـوداګرو اقتصـادي فرصتونـو تـه پيونـد ور کـړي.

- د ښـځو د شـبکو جوړښـتونو تـه وده ورکـول بايـد پراخـه کټګـورۍ يـا يـو شـمير ښـځينه سـوداګرۍ تـر پوښـښ لانـدې و نيسي او د سـوداګرو ښـځو پوهـاوی بـه د بيلا بيلـو پروګرامونـو او پـروژو پـه اړه، چـې د ښـځو ملکيـت لانـدې سـوداګرۍ بانـدې تمرکـز لـري، لـوړ کـړي.

د ښـځينه سـوداګرو پـه منـځ کـې د رسـمي ادارو لـه لـوري د ملاتـړ پـه اړه معلومـات محـدود دی او دا د دې سـبب کيـږي چـې هغـوی و نـه شي کـولای د شـته فرصتونـو څخـه ګټـه واخـلي. د ښـځو شـبکې او د ملاتـړ پيـدا کولـو ادارې بايـد سره و نښـلول شي او سـوداګرو ښـځو تـه د لاسرسـۍ زمينـه برابـره شي، او هغـوی تـه د مقرراتـو او سـوداګريز چاپيريـال پـه اړه معلومـات ورکـړل شي.

- د ښـځو تـر ملکيـت لانـدې سـوداګريز معلومـات راټـول او پـه منظمـه توګـه پـه هېـواد کـې د ښـځو د اړتيـاوو او خنډونـو د سـوداګرو ښـځو پـر وړانـدې پرتـو خنډونـو تـه د حـل لارې پيـدا کولـو تـه پاملرنـه و شي.

د سـوداګرو ښـځو کارونـه بايـد مطالعـه شي او بايـد کوچنـۍ او متوسـطې سـوداګرۍ سره جلا شي. چـې د ښـځو سـوداګرۍ تـه وده ورکـړل شي، دا مهمـه ده چـې د خپلـې سـوداګرۍ پـه وضعيـت او د فعاليـت حـدود معلـوم کـړای شي. د ښـځو تـر ملکيـت لانـدې سـوداګرۍ پـه اړه پـه منظمـه توګـه د معلوماتـو راټولـول بـه د پاليـسي جوړوونکـو سره مرسـته وکـړي تـر څـو

د پوهې په رڼا کې تصمیمونه ونیسي او د ودې لپاره زمینه برابره او د خپلې سوداګرۍ د ښه کولو لپاره کار وکړي.

- د سواد او حرفوي زده کړو له لارې په بازار کې د ښځو د کار د ګډون زیاتوالی.

د روزنې او زده کړې له لارې د سواد زده کړه او پوهه د سوداګرۍ یوه نه بېلېدونکې برخه ده. د ښځو د کار د ګډون زیاتوالی، البته د حرفوي زده کړو او د سواد زده کړې پروګرامونه باید داسې طرحه شي چې د تولید او د ښځینه سوداګریو په برخه کې بشري پانګه لوړه شي. دا یوه مهمه برخه ده او سوداګریز پروګرامونه باید په عامه او خصوصي پوهنتونونو کې معرفي شي. په تعلیمي سیستم کې د داسې پروګرامونو له لارې، د ښځو سوداګریز مهارتونه پرمختګ شونی او پیاوړي کولای شي.

- د مدني ټولنو سره په ګډه په ټولنه کې د ملاتړ پیدا کول تر څو د ښځو موقف تقویه او عامو خلکو ته د ښځو د حق او په اقتصاد کې د ښځو سوداګریو د اغېزې په اړه روزنه ورکړل شي.

مدني ټولنې باید په ټولنه کې د رسمي ادارو د ملاتړ له لارې د ښځو د وضعیت د ښه والي او د هغوی د حقوقو لپاره نارینه وو او ښځو ته ګډ پوهاوي ور کړي. مطالعاتو (لکه څنګه یې چې په څلورمه برخه کې یادونه شوې) دا موندلې چې د هغوی د قانوني حقونو د تر لاسه کولو لپاره د ښځو تر منځ د پوهاوي نه شتون هغوی "دوه زړې" کړې دي چې د خپلو حقوقو ادعا وکړي. تر څو پورې چې د ښځو پر وړاندې ټولنیزې محدودیتونه کم شوي نه وي، هغوی د ملاتړ پیدا کولو پروګرامونه باید د ښځو لپاره د مدني او مذهبي حقونو تر لاسه کولو په مقصد له نارینه سره کار و کړي.

- پر ښځینه سوداګریو باندې د ټولو کوچنیو او منځنیو سوداګریو د پالیسۍ د اغیزو ارزونه او د پالیسیو او پروګرامونو د طرحې په پړاو کې موندنو ته ځای ورکړي.

حکومت باید داسې اقدامات په ګوته کړي چې هغه د ښځو د کوچنیو او منځنیو سوداګریو پر پالیسیو اغیزمنتوب په ګوته کړي. پالیسۍ ښایي د ښځو او نارینه تر ملکیت لاندې سوداګرۍ لپاره مختلفې پایلې ولري؛ دغه متحولونو څخه باید د نوو پالیسیو د جوړولو پر مهال کار واخستل شي او باید په پام کې ونیول شي. د پالیسۍ جوړونکي باید د اوسنۍ تګلارې د اغیزو ارزونه وکړي تر څو د ښځو تر ملکیت لاندې سوداګرۍ ته ښه وضعیت ورکړي. د دغه پروګرامونو او پالیسیو ارزونه د دې لپاره مهمه ده چې سرې پوه شي چې څه شي نتیجه ور کړې او کوم څه باید اصلاح شي.

# لومړی ضمیمه: جدولونه

دوهم جدول: د افغانستان صادرات

| ګڼه | موضوع | ۲۰۱۰ کال | ۲۰۱۱ کال | ۲۰۱۲ کال | ۲۰۱۳ کال | ۲۰۱۴ کال | ونډه | زیاتوالی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | میوه او مغز لرونکي میوی | ۴۴۳۶ | ۲۹۵۸ | ۳۹۸۶ | ۵۶۷۸ | ۹۱۵۳ | ۳۴ سلنه | ۶۱ سلنه |
| ۲ | ممیز | ۲۴۷۵ | ۱۸۵۱ | ۲۰۸۲ | ۱۵۴۷ | ۳۱۵۲ | ۱۲ سلنه | ۱۰۴ سلنه |
| ۳ | تیل لرونکي غله جات | ۱۵۱۴ | ۱۴۶۱ | ۱۵۱۳ | ۲۶۰۳ | ۲۹۴۵ | ۱۱ سلنه | ۱۳ سلنه |
| ۴ | د سونګ معدنی توکي | ۵۸ | ۵۴۰ | ۷۰۴ | ۱۱۱۵ | ۱۸۶۵ | ۷ سلنه | ۶۷ سلنه |
| ۵ | سابه | ۸۹۶ | ۷۵۰ | ۵۷۸ | ۱۸۱۴ | ۱۵۰۱ | ۶ سلنه | ۱۷سلنه |
| ۶ | څرمن | ۴۳۱ | ۳۶۵ | ۶۱۶ | ۶۰۱ | ۱۰۰۰ | ۴ سلنه | ۶۶ سلنه |
| ۷ | قالیني | ۳۳۷ | ۲۳۸ | ۲۵۲ | ۶۱۴ | ۹۳۸ | ۴ سلنه | ۵۳ سلنه |
| ۸ | د خوړو مصالحي | ۳۳۹ | ۲۰۴ | ۳۳۳ | ۴۰۸ | ۹۲۱ | ۴ سلنه | ۱۲۶ سلنه |
| ۹ | پنبه یا مالوچ | ۲۶۲ | ۳۷۸ | ۴۰۸ | ۲۲۶۱ | ۹۱۷ | ۳ سلنه | ۵۹ سلنه |
| ۱۰ | حبوبات | ۲۴۱ | ۸۹ | ۱۴۴ | ۴۹۴ | ۴۷۹ | ۲ سلنه | ۳ سلنه |
| ۱۱ | وړین محصولات | ۵۵۲ | ۴۹۱ | ۵۲۲ | ۷۰۲ | ۴۱۱ | ۲ سلنه | ۴۱ سلنه |
| ۱۲ | سمنت، مالګه، د پلاستر مواد، ډبري | ۹۹۰ | ۱۵۸ | ۲۷۲ | ۳۳۱ | ۴۰۴ | ۲ سلنه | ۲۲ سلنه |
| ۱۳ | طبعي یا اوډل شوي ملغلري | ۷۸ | ۱۳۹ | ۱۸۳ | ۱۶۲ | ۳۹۸ | ۱ سلنه | ۱۴۵ سلنه |
| ۱۴ | نور | ۸۱۲ | ۱۸۲۲ | 3,119 | ۹۵۳ | ۲۵۳۷ | ۱۰ سلنه | ۱۶۶ سلنه |
| | ټول (میلیون) افغانی | ۱۳۴۲۱ | ۱۱۴۴۴ | ۱۴۷۱۱ | ۱۹۲۸۵ | ۲۶۶۲۱ | ۱۰۰ سلنه | ۳۸ سلنه |
| | ټول (په میلیون ډالر) | ۲۸۸ | ۲۴۵ | ۲۸۹ | ۳۴۷ | ۴۶۴ | | ۳۴ سلنه |

سرچینه: د نړیوالي سوداګرۍ ریاست، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت. کلنۍ. ۲۰۱۴ کال.

دریم جدول: د افغانستان واردات

| گڼه | موضوع | ۲۰۱۰ کال | ۲۰۱۱ کال | ۲۰۱۲ کال | ۲۰۱۳ کال | ۲۰۱۴ کال | ونډه | زیاتوالی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سونګ معدنی توکي، معدنی تیل | ۵۲۲۳۹ | ۵۲۲۳۱ | ۵۶۴۰۹ | ۷۲۸۴۱ | ۵۶۲۶۱ | ۱۵ سلنه | ۲۳ سلنه |
| ۲ | غوړی | ۶۴۲۷ | ۱۲۳۰۱ | ۱۹۳۹۹ | ۲۵۱۲۹ | ۳۱۵۵۹ | ۹ سلنه | ۲۶ سلنه |
| ۳ | ژرنده شوي محصولات | ۱۳۸۲۲ | ۱۴۵۳۰ | ۲۱۷۹۴ | ۲۱۴۷۶ | ۲۶۴۵۱ | ۷ سلنه | ۲۳ سلنه |
| ۴ | عراده جات او د هغوی پرزې | ۵۴۷۶۴ | ۶۱۹۱۶ | ۴۳۸۹۸ | ۲۴۲۱۴ | ۲۵۰۶۶ | ۷ سلنه | ۴ سلنه |
| ۵ | اوسپنه او فولاد | ۱۸۱۱۸ | ۳۲۵۶۳ | ۳۵۳۹۲ | ۲۹۱۲۳ | ۲۳۸۳۳ | ۶ سلنه | ۱۸ سلنه |
| ۶ | د انسان په لاس جوړ شوي سپنسی | ۷۵۹۷ | ۱۰۷۹۰ | ۱۲۰۹۴ | ۱۷۹۷۰ | ۲۳۵۰۹ | ۶ سلنه | ۳۱ سلنه |
| ۷ | سمنت، خاوره او ډبرې | ۹۷۰۴ | ۱۵۹۶۵ | ۱۷۵۶۰ | ۱۶۸۶۹ | ۱۵۳۰۱ | ۴ سلنه | ۹ سلنه |
| ۸ | د برېښنا ماشین آلات او تجهیزات | ۱۴۵۵۷ | ۲۱۵۵۷ | ۱۸۹۷۰ | ۱۵۰۹۸ | ۱۳۸۴۰ | ۴ سلنه | ۸ سلنه |
| ۹ | بوره او له بورې جوړ شوي خواره شیان | ۵۱۰۲ | ۵۰۴۹ | ۳۵۷۶ | ۵۱۸۱ | ۱۰۵۶۴ | ۳ سلنه | ۱۰۴ سلنه |
| ۱۰ | کافي، چای، ملحقات او مصالحه جات | ۳۲۸۵ | ۵۲۵۳ | ۶۶۰۵ | ۸۸۴۱ | ۱۰۲۸۸ | ۳ سلنه | ۱۶ سلنه |
| ۱۱ | ماشین آلات، اوبه تودونکی | ۱۱۷۰۲ | ۱۴۹۱۸ | ۱۳۴۲۹ | ۹۷۹۶ | ۹۶۵۱ | ۳ سلنه | ۱ سلنه |
| ۱۲ | لرګی او لرګین محصولات | ۵۸۴۷ | ۶۸۸۳ | ۷۷۴۰ | ۸۱۳۵ | ۸۳۳۳ | ۲ سلنه | ۱ سلنه |
| ۱۳ | د اوسپنې او فولادو محصولات | ۵۳۸۸ | ۶۲۰۷ | ۶۷۰۰ | ۷۵۸۹ | ۸۱۸۲ | ۲ سلنه | ۸ سلنه |
| ۱۴ | پلاستیک او د هغه اړوند محصولات | ۳۷۳۲ | ۷۲۳۵ | ۸۲۹۹ | ۸۰۵۸ | ۷۰۶۴ | ۲ سلنه | ۱۲ سلنه |
| ۱۵ | رابر او اړوند محصولات یې | ۶۰۸۴ | ۵۹۹۴ | ۵۶۰۰ | ۵۰۸۹ | ۶۷۳۴ | ۲ سلنه | ۳۲ سلنه |
| ۱۶ | لبنیاتی محصولات | ۲۴۶۰ | ۳۷۶۸ | ۴۹۱۱ | ۵۵۸۴ | ۶۰۴۳ | ۲ سلنه | ۸ سلنه |
| ۱۷ | غوښه او  خوراک ته تیاره غوښه | ۳۲۴۶ | ۴۲۶۶ | ۴۷۱۲ | ۴۱۸۲ | ۵۸۹۲ | ۲ سلنه | ۴۱ سلنه |
| ۱۸ | کاغذ او کاغذي تختې | ۱۵۹۹ | ۲۶۶۷ | ۴۱۸۱ | ۵۰۱۹ | ۵۶۱۷ | ۲ سلنه | ۱۲ سلنه |
| ۱۹ | حبوبات | ۵۱۰۲ | ۵۹۳۴ | ۸۰۵۷ | ۶۲۳۷ | ۵۵۷۹ | ۲ سلنه | ۱۱ سلنه |
| ۲۰ | تمباکو | ۲۷۷۸ | ۵۱۱۸ | ۶۴۱۱ | ۳۰۷۱ | ۴۹۵۲ | ۱ سلنه | ۶ سلنه |
| ۲۱ | صابون، او پرمینځلو توکي | ۲۵۰۳ | ۳۶۲۰ | ۴۳۵۲ | ۵۱۹۴ | ۴۸۶۱ | ۱ سلنه | ۶ سلنه |
| ۲۲ | خوراکي سابه | ۲۷۳۰ | ۳۴۸۸ | ۴۲۹۵ | ۳۶۳۰ | ۴۰۴۶ | ۱ سلنه | ۱۱ سلنه |
| ۲۳ | ژوندي ځاروي | ۱۴۵۶ | ۱۹۹۹ | ۲۷۳۱ | ۴۵۹۱ | ۳۷۹۸ | ۱ سلنه | ۱۷ سلنه |
| ۲۴ | درملي محصولات | ۱۵۶۳ | ۲۴۹۸ | ۲۵۴۸ | ۳۱۳۲ | ۳۷۶۶ | ۱ سلنه | ۲۰ سلنه |
| ۲۵ | ډول ډول نوشابې | ۱۵۰۵ | ۲۷۲۴ | ۳۷۴۰ | ۲۶۳۸ | ۳۵۲۰ | ۱ سلنه | ۳۳ سلنه |
| ۲۶ | کلچې ، له حبوباتو جوړ شوې مواد او اوړه | ۱۲۸۰ | ۲۳۳۰ | ۲۴۰۱ | ۲۳۲۵ | ۲۶۶۳ | ۱ سلنه | ۱۵ سلنه |
| | نور | ۳۰۶۹۰ | ۴۲۶۶۲ | ۴۳۵۱۵ | ۳۷۷۰۰ | ۴۰۲۹۳ | ۱۱ سلنه | ۷ سلنه |
| | ټول (میلیون )افغانی | ۲۷۵۲۷۷ | ۳۵۴۴۶۶ | ۳۶۹۳۱۸ | ۳۵۸۷۱۳ | ۳۶۷۶۶۵ | ۱۰۰ سلنه | ۲ سلنه |
| | ټول (میلیون) ډالر | ۵۹۰۷ | ۷۵۷۴ | ۷۲۵۶ | ۶۴۵۲ | ۶۴۰۵ | | ۱ سلنه |

سرچینه:  د نړیوالې سوداګرۍ ریاست، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت. کلنۍ. ۲۰۱۴ کال.

# دوهمه ضمیمه: پوښتنلیک

راز ساتنه (محرمیت): هر ډول معلومات چې تاسو د دې مرکې په ترڅ کې په ډاګه کوئ هغه به په کلکه توګه پټ پاته شي او یوازې د دې څېړنې د تحلیل لپاره به وکارول شي. ستاسو له اجازې پرته، به مورږ هغه رسوا یا په ډاګه نه کړو او ستاسو معلومات به هیڅ کومې اداري سره شریک نه کړو. ستاسو ملاتړ به د پالیسۍ د تصمیم نیونکي سره مرسته وکړي تر څو په هېواد کې د ښځینه سوداګرۍ د وضعیت په اړه په غږیدلو سترګو فیصلې وکړي.

| | |
|---|---|
| د تعلیم کچه | نوم: |
| دنده: سوداګر | عمر: |
| تاریخ / / وخت: | د اوسیدو ځای: |

١. آیا کولای شی د خپلې سوداګرۍ په اړه مورږ ته ووایاست؟
٢. کله مو د خپلې سوداګرۍ پیل وکړ؟
٣. آیا تاسو د خپلې کورنۍ اعاشه او اباته په غاړه لرئ؟ څه شي اړ کړئ تر څو تاسو خپله سوداګرۍ پیل کړئ؟
٤. آیا ستاسې سوداګري له حکومت سره ثبت شوي؟
٥. تاسو له کومو سرچینو څخه استفاده وکړه او یا د خپل کار د پیل لپاره مو ورته اړتیا درلوده؟
٦. چا ستاسو ملاتړ وکړ تر څو دا منابع تر لاسه کړئ؟
٧. ستاسې د تولیداتو یا خدماتو د پام وړ پیرودونکي څوک دي؟
٨. تاسې کوم محصول بازار ته وړاندې کوئ؟ او ستاسې محصول / خدمت څه ډول خپل مطلوب / هدف بازار ته ورسیږي؟
٩. که ستاسې د سوداګرۍ څخه له یو کال زیات وخت تیر شوی وي، او یو څوک له تاسې پوښتنه وکړئ: نو تاسې به د خپلې سوداګرۍ وضعیت څرنګه تعریف کړئ؟ آیا هغه وده کوي؟
١٠. څومره خلک (نارینه او ښځې) تاسې په خپله سوداګرۍ کې په کار ګمارلي دي؟
١١. تاسې خپل محصولات څرنګه مشهور (بازارموندنې) کړې ؟ که هو، څرنګه؟
١٢. تاسې د خپلې سوداګرۍ د پیل پر مهال له کومو ستونزو سره مخ شوي یاست؟
(مهم کلمات: د ثبت شوي سوداګرۍ لپاره د ثبت پر مهال، د کورنۍ هوکړه، مالي سرچینو ته لاسرسی، ځمکې ته لاسرسی، د سوداګرۍ لپاره (کور، هټۍ، په کرایه نیول شوی) ځای، انساني پانګه، دولتي ملاتړ، او نور
١٣. تاسو د خپلې سوداګرۍ لپاره د حکومتي او غیر حکومتي موسسو څخه کوم ډول ملاتړ تر لاسه کړې؟ د بېلګې په توګه، د روزنې، پور،
د سوداګرۍ د پراختیا ملاتړ او داسې نور.
١۴. آیا تاسو پوهیږئ چې حکومتي او غیر حکومتي اداري کوم ډول ملاتړ برابروي؟ آیا تاسې د کومو ادارو نوم یادولای شئ چې تاسو
فکر کوئ چې د ښځینه سوداګرو ملاتړ کوي؟
١۵. تاسو له کومه ځایه د نوې ټکنالوژۍ او یا کوم بل څه له لارې نظریات ترلاسه کولی شي چې په بالقوه ډول ستاسې د سوداګرۍ د محصول زیاتوالي په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي او له هغو څخه معلومات ترلاسه کړئ؟

۱۶. آیا تاسو د کومې رسمي مالي ادارې له مرستې لکه د خپلې سوداګرۍ لپاره بانکي حساب څخه کار اخلئ؟ که ځواب نه وي، نو آیا تاسې په خپله سیمه کې کومه بانکې اداره لرئ او تاسې هغې ته آسان لاسرسی لرئ؟

۱۷. تاسو فکر کوئ او یا هم باور لرئ چې د ښځو سوداګرو لپاره ځینې اقتصادي فرصتونه شته؟

۱۸. ټولنه د سوداګرۍ لرونکو ښځو په اړه څه فکر کوي؟

۱۹. د یوې ښځینه سوداګرې په توګه ستاسې د تجربې پر بنسټ، ستاسو نظر څه دی چې ښځې سوداګرې له کومو خنډونو سره مخ دي؟

الف.کوم ټولنیز خنډونه شتون لري؟

ب.کوم اقتصادي خنډونه شتون لري؟

ج.کوم تخنیکي خنډونه شتون لري؟

د.آیا د ښځینه سوداګرو لپاره ځانګړي امنیتي خنډونه شتون لري؟

ه.آیا تاسو فکر کوئ چې فساد ښځینه سوداګرو پر وړاندې خنډ دی او که نه؟

۲۰. څه فکر کوئ، ښځینه سوداګرې تر ټولو مهمو کومو پنځو خنډونو سره مخ دي؟

# دریمه ضمیمه: د ښځینه سوداګرو دیاګرام



# کتاب ښود

– مجیب مشعل. د کوچنیو او منځنیو تصدیو پرمختیا او په افغانستان کې سیمه ییزه سوداګري. AREU جنوری، ۲۰۱۴.

– په افغانستان کې د اقتصادي فعالیت او د پانګې اچونې په اړه اساسي حقایق. څیړنې او احصایې ریاست. د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره. مارچ، ۲۰۱۲ کال.

– عمر جویا، میرتوفیق انصاري، عبدالصمد کټوازي، احمد شاه مومن، داریوش تابش، قدرت الله حلیم. په افغانستان کې د ثابتې سوداګرۍ د پانګې اچونې اټکل. د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره. می، ۲۰۱۲ کال.

– په افغانستان کې د کار د ښځو (QARA) مشورتي اداره، (LLC)، آګسټ، ۲۰۱۴.

– احمد ایف آصفي. په افغانستان کې د اړتیا پربنسټ په بازار کې د انساني ځواک ځیرکتیا. حرکت (AICFO) او (NSDP). ۲۰۱۲.

– ویلیام ای بیرد. په افغانستان کې د اقتصاد مدیریت (USIP)۲۰۱۵ .

– آلوتایو آکین پلو آولرنواجو، یوسف شرافت اولابیسي. په غیر رسمي اقتصاد کې سوداګریزو سرچینو ته د ښځو لاسرسی. د آبادان پوهنتون، نایجریا. شماره ۲، ۲۰۱۲.

– د کوچنیو او متوسطو سوداګریو د ستراتیژۍ پلی کول: د افغانستان د کرهنې د پراختیا لپاره د عمل پلان: د کانونو او صنایعو اوکرهنې او مالدارۍ وزارتونه. می ۲۰۱۱ – مارچ ۲۰۱۳.

– چیک کاسیک، اریک مالموستروم. د افغانستان د سوداګریو غوښتونکي. کاوفمن. نومبر، ۲۰۱۲.

– د افغانستان د ژوند د شرایطو سروې، منځ مهالې پایلې۲۰۱۴. د احصایې مرکزي اداره دسمبر، ۲۰۱۴

– (NRVA)۲۰۱۲ -۲۰۱۳، څلورم څپرکی: د کاري ځواک ځانګړتیاوې. د احصاییې مرکزي اداره. کابل- افغانستان

– ټام ګیبسون، ایچ. جی. دیر وارت. "د کوچنیواو منځنیو سوداګریو تعریف": د مخ پر ودې هېوادونو د کوچنیو او منځنیو تعریف لره نیمګړی لار ده." د بروکینګز ګلوبل اقتصاد او پراختیا. بروکینګز. د سپتمبر ۲۰۰۸

– د سوداګرۍ کار کول ۲۰۱۴. "د کوچنیو او منځنیو سوداګریو لپاره مقررات." د نړیوال بانک ډله. یولسمه خپرونه. ۲۰۱۴ .

– "په افغانستان کې د اقتصادي فعالیت او د پانګې اچونې اړوند اساسي حقایق." ایسا. د څیړنې او د احصایې ریاست. مارچ، ۲۰۱۲ کال.

– آدم پین، ریچارد مالیت. "د جندر، ځوانانو او ښاري کارګر په توګه په بازار کې ګډون: په کابل کې، د خیاطی سکتور څخه لاسته

راغلي شواهد" AREU. کابل. ۲۰۱٤جولای، ۲۰۱۴.

- "په کابل ښآر کښې د کوچنیو سوداګریو د رامنځ ته کولو لپاره د رسمیت نه شتون" (AMMC). حرکت. جولای، ۲۰۱۱.

- لینا ګانیش، مسعوده کوهستانی، رحیم اعظمي، ربیکا ایل. میلر "په افغانستان کې د ښځو اقتصادی پیاوړتیا، ۲۰۰۲- ۲۰۱۲ کال پورې، معلوماتي نقشه" (AREU) د پرمختیا لپاره د ملګرو ملتونو سازمان. کابل. جولای،۲۰۱۳ کال.

- احمد ایف آصفي. په افغانستان کې د اړتیا پربنسټ په بازار کې د انساني ځواک ځیرکتیا. (NSDP). ۲۰۱۲

- "د افغانستان د ژوند د شرایطو سروې (NRVA -۲۰۱۱-۲۰۱۳)، او د احصایي مرکزي اداره ۲۰۱۴.

- "د خصوصي سکتور وده، سکتوري ستراتژي (۲۰۰۷/۰۸ – ۲۰۱۲/۱۳)." د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتژی. د جون ۱۰، ۲۰۰۸.

- هولي ریچي. 'په ماتیدونکي چاپیریال کې بیا فکر کول، په سومالیا کې تر لاسه شوې تجربې، بشري خوندیتوب او ګډون" په نوو دولتونو کې بشري خوندیتوب، د (IS) آکاډمي، د ټولنیزو مطالعاتو نړیوال پوهنتون. ۲۰۱۴.

- "اروپایي ټولنه، په افغانستان کې جنس په جنس تبادله." د سوداګرۍ عمومي رئیس، اروپایي کمیسیون.۲۰۱۴.

- شایمه وي. رامني، آجای توتوپالی، طهماس میدورسکی، چاټو پادو، وینا راویچندروم. " په غیررسمی اقتصاد کې ښځینه سوداګرې: آیا رسمیت ته شاملیدل د سوداګرۍ د پایښت یوازینۍ لاره ده؟ " د کاري سند شمیره ۲۰۱۳-۰۱۸. د ملګرو ملتونو پوهنتون. ۲۰۱۳.

- "افغانستان: دا وخت را رسیدلی چې د پایښت لرونکو دندو پر لور حرکت وکړو، په افغانستان کې د ګومارنې د حالت مطالعه» د کار نړیوال سازمان - افغانستان دفتر. کابل. می، ۲۰۱۲ کال

- ماریا بوینیک، ربیکا فوریسټ، نیکولاس، ایملي کوري پیر. " د ښځو د اقتصادی پیاوړتیا د ودې لپاره یوه تګلاره " اکسون موبل. د ملګرو ملتونو بنسټ.

- فریدریخ دیلمار، کارین هوم قویست."د سوداګرۍ وده او په نړیوال اقتصاد کې د کوچنیو او منځنیو سوداګریو نوښت: د یو مسئول او ټول شموله نړیوالتوب پر لور." د اقتصادي همکارۍ لپاره پرمختیایي سازمان، استانبول، ترکیه، د جون ۳ـ ۵ پورې، ۲۰۰۴ کال.

EPD | EQUALITY for Peace and Democracy

کابل - افغانستان

admin@epd-afg.org - www.epd

د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه (EPD) یوه غیر انتفاعي، غیر دولتي اداره ده چې په افغانستان کښې په محلي او د پالیسۍ جوړونې په کچه د میرمنو او ځوانانو ځواکمن کولو ته ژمنه ده. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه د ۲۰۱۰ کال په لومړیو کې د آغلې نرګس نهان له خوا چې د (EPD) عمومي مشره ده، تاسیس شوه. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه د میرمنو او ځوانانو د کاري وړتیا د لوړولو لپاره کار کوي تر څو په پرمختیایي کارونو، سولې را وستلو، او د هیواد په دموکراتیک بهیر کښې د خپلو اړتیاو د مطرح کولو لپاره را میدان ته شي. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسه پردې سربیره غواړي چې په پراخه کچه میرمنې او ځوانان په خوځښت راولي چې د بې ثباتۍ په هغو ستونزو غلبه و مومي چې دا مهال افغانستان ورسره لاس او ګریوان دی. د سولې او ډیموکراسۍ لپاره د برابرۍ موسسې د میرمنو او ځوانانو لپاره جوړښتونه تاسیس کړي تر څو په خپلو منځو کې سره لاسونه یو کړي، خپلې شبکې تاسیس، او په خپل منځ کښې د باور او اعتماد فضا رامنځته کړي، او په ګډه هڅه وکړي چې افغانستان په یو داسې ډیموکراټیک هیواد بدل کړي چې د هر ډول تاوتریخوالي او تبعیض څخه پاک وي.